

# كَيفَ نُرتِلُ القُرآنَ

## برواية قالون عن نافع المدني

Ketabton.com

جمع وترتيب

**قاري شاه ولي الله آخندزاده**

معلم القرآن الكريم والتجويد بمركز العلوم الإسلامية أسعدآباد

مراجعة وتقريظ

**فضيلة الشيخ/ عبد الباقي بن محمد أ الله الأفغاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تـقـريـظ ومـراجـعـة

**الْحَمْدُلِلهِ الَّذِيْ أَوْرَثَ كِتَابَهُ مَنِ اصْطَفَاهُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ التَّامَّانِ الْأَكْمَلَانِ عَلَى نَبِيِّهِ وَمُجْتَبَاهُ، سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنِ اتَّبَعَ هُدَاهُ، وَاقْتَفَى أَثَرَهُ وَتَرَسَّمَ خُطَاهُ.**

**أَمَّا بَعْدُ:**

(قاري شاه ولي الله بن سيد محمد آخندزاده) وَفَّقَهُ اللهُ تَعَالَى، خپله رساله (**كَيْفَ نُرَتِّلُ الْقُرْآنَ بِرِوَايَةِ قَالُوْنَ عَنْ نَّافِعِ الْمَدَنِيْ**) دکتلولپاره، او خپل نظر ورکولو په غرض راولیږله، نو ما دخپل وخت نه څه اندازه وخت دغه مبارک کار کی صرف کړو، چي دا زما لپاره دفخر او شرف او دخوشبختی خبره ده، نو دبعض مسائلو دتصحیح نه بعد زه دې نتیجي ته ورسیدم چي دا رساله به د روایة قالون ویونکو طلباؤ ته یوه فائده منه رساله ثابته شي ان شآءالله، ځکه چي په ډیره آسانه او مختصره طریقه لیکلی شوي ده.

د الله ج نه دعاء کوم چي دقاري صاحب داکوشش او جُهد خپل دربار کي قبول او منظور کړي.

والسلام عليكم ورحمت الله وبركاته

**كـتـبـه**

خادم القرآن الكريم والقراءات

عبـدالـبـاقـي مـحـمـد الله الأفـغـانـي

المدرس بالجمعية الخيرية لتحفيظ القرآن الكريم، بمنطقة تـبـوك

يوم الخميس

التاريخ:    ٢٢ / ٧ / ١٤٤٣ هـ ق

الموافق:    24 / 2 / 2022 م

٥ / ١٢ / ١٤٠٠ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الـمـقـدمــــة

## بـسـم الله الـرحـمـن الرحيم

**الحمد لله الذي أنزل الفرقان على عبده ليكون للعالمين نذيراً، وأشهد أن لَّا إله إلَّا اللهُ الذي لم يتخذ ولداً ولم يكن لَّه شريك في الملك وخلق كل شيءٍ فقدره تقديراً، وأشهد أن سيدنا محمد رسول الله، أرسله الله شاهداً وَّمبشراً وَّنذيراً، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً مُّنيراً. اللهم صل على سيدنا محمدٍ وَّعلى آله وأصحابه الذين سلكوا مسلكه، وانتهجوا منهجه، وساروا على دربه وتأسوا بفعله، رضي الله عنهم ورضوا عنه عليهم صلواتٌ مِّنْ رَّبِّه ورحمة، أولئِك الذين صدقوا وأولئِك هم المتقون.**

**أمَّــا بــعد:** قرآن مجيد دالله عزوجل سپيڅلی کتاب دی ،چي دانسانانو او پيريانو دهدايت او لارښووني لپاره يې نازل کړي دی.ددي مقدس کتاب تعليم او تعلم او ددي په مقاصدو تدبر او تفکر کول نه يواځي دثواب او برکت سبب ګرځي، بلکه الله عزوجل ته دتقرب او نزديکت بهترينه وسيله هم ده، د قرآن مجيد لوستل عبادت دی او په هر حرف لوستلو باندي يې الله عزوجل لس نيکی ورکوي خو داپه هغه وخت کي چي دقرآن کريم تلاوت په داسي طريقي سره وشي لکه څنګه چي يې حق دي، الله عزوجل فرمايي ﴿الَّذينَ آتَيناهُمُ الكِتابَ يَتلونَهُ حَقَّ تِلاوَتِهِ﴾ [البقرة: ١٢١] إمام غزالي رحمه الله فرمايي دقرآن کريم په لوستونکو دقرآن د لوستلو دري حقونه دي. ١/ دژبي حق. ٢/ دعقل حق. ٣/ دزړه حق. دژبي حق دادي دحروفو تصحيح کول. دعقل حق دادي سوچ او فکر کول په معانيو کي. او دزړه حق دادي نصيحت قبلول.

دقرآن کريم لوستل دنورو کتابونو په څير عادي کتاب ندي چی څوک يې دپير صيب او أخون صيب او دهوښيار أمي نه وايي اوبالخصوص دهغه خلکو په حال خو زيات خفګان او أفسوس په کار دی چي په علم کلام او علم منطق کي يې کلونه کلونه تيرکړل خو چي کله دقرآن کريم تلاوت کوي نوتا به حيران کړي چي داڅه لولي،او دهغه غټو خبرو لحاظ نه ساتي چي هغه حروف صحيح اداء کول دي نور احکام دتجويد هغه خو ډيره لري خبره ده، له همدي وجي نه دقرآن په حقوقو کي يو حق دادي په أمت مسلمه باندي دقرآن صحيح لوستلو اوزده کولو لپاره خپل ټول مالي او معنوي طاقتونه إستعمال کړي تر څو صحيح قرآن تلاوت کړي،نو ضروري خبره ده چي دقرآن لوستونکي دتجويد علم په نظري اوعملي توګه زده کړي وي اوداسي ګومان  ونه کړي چی دقرآن مجيد صحيح لوستل به له نظري او عملي تجويد پوهي نه پرته آسان کار وي، خاصکر هغه طلاب العلم او قراء کرام چي قراءتونه وايي دهغوئ خو به نظري او عملي تجويد لازمي ښه ياد وي،الله عزوجل دي دعربو قراء کرامو اوشيوخو ته خير کثير ورکړي چی زيات خدمت يې دقرآن مجيد کړي په خپله مورنی ژبه عربی کي ځکه خو په روايت قالون هم زيات کتابونه په عربی کي ليکل شوي دې خو دبعضي کتابونو نه په استفادي اخيستلو سره مي وغوښتل چي دعربی نه يي پښتو ته ترجمه کړم سره دلږ زيادت او تفصيل نه اونوم مي ورته خوښ کړ **(كَيْفَ نُرَتِّلُ الْقُرْآنَ بِرِوَايَةِ قَالُوْنَ عَنْ نَّافِعِ الْمَدَنِيْ)** ددي لپاره چي هغه قواعد اوضوابط دپښتو ژبي دعلم قراءت مينوالو اوطلاب العلمووړونو مخي ته وړاندي کړم چي دکومو په بنياد  دقالون روايت صحي طريقي سره لوستل کيږي ترڅو هغوئ ترينه إستفاده وکړي او دنومړي روايت په يادولو کي ورته سهولت رامنځ ته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دقـرآن كـريـم فضيـلت

قرآن په لغت كي لوستلو يا يوځاي كولو ته وايي او په إصطلاح كي قرآن دالله عزوجل كلام دي چي دجبريل عليه السلام په واسطه په محمد صلى الله عليه وسلم باندي نازل شوى، په مصاحفو كي ليكل شوي، او مونږ ته په متواتر ډول سره رارسيدلي چې تلاوت كول يي عبادت دى.

قرآن كريم يو عالمي او عظيم كتاب دى چي ټولي نړۍ ته يي يو لوى پيغام راوړى دى چي د دنيا تياري او ظلمونو او دإستبداد ټول نظامونه يي رانسكور كړي ،او دالله عزوجل بنده ګان يي ديو الله ج بنده ګى ته رابللي په همدي أساس دا عظيم او سپيڅلي كتاب دټولي نړۍ لپاره دكاميابۍ او نيكمرغۍ سبب جوړ شو او دهغي وجه داوه چي قرآن كريم دالله جل جلاله كلام او خبري دي او چي دالله عزوجل په كلام كي تأثير نوي نو بل څه كي به تأثير وي، ډيرو پوهه او دقوم مشرانو خلكو به ددى كتاب دعوت او تبليغ مخه نيوله دورځي په جريان كي او دشپي به راتلل په پټه باندي او دمحمدصلى الله عليه وسلم تلاوت ته به يې غوږ نيولو، دا ددي كتاب په فضيلت او غوره والي دلالت كوي، له دى وجى نه پدي كتاب سره الله عزوجل انسانانو ته عزت وركوي څكه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي **{إن الله يرفع بهذا الكتاب اقواما ويضع به أخرين}** [رواه مسلم: 1359]

يقينا الله جل جلاله په دى كتاب سره ډيرو قومونو ته عزت وركوي او مقابل كي چي څوک يى ښه نه استقبالوي هغوۍ ذليله كوي، نو دى كتاب سره تعلق جوړول په شكل دتعليم او تعلم يا په شكل د داعي يا په شكل دخادم دا دسعادت او نيكمرغۍ نښه ده چي الله جل جلاله دداسي انسان لپاره دخير إراده كړي ده څكه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي **{عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم خيركم من تعلم القرآن وعلمه}** [رواه البخاري: 466]

غوره او بهتر په تاسو كي هغه څوک دي چي قرآن مجيد زده كړي او نورو ته يي ښايي. په نوموړي حديث كي دغوره والي خبره رانغښتي ده چي څوک تعلق دالله جل جلاله دكتاب سره جوړوي دتعليم او تعلم په شكل سره.

الله جل جلاله دقرآن كريم عظمت بيان كړي اوقسم يى ورباندى كړي **﴿حم﴾﴿وَالكِتابِ المُبينِ﴾** [الزخرف: 2]

الله ج دقرآن كريم لويه مرتبه بيان كړي **﴿إِنَّهُ لَقُرآنٌ كَريمٌ﴾﴿في كِتابٍ مَكنونٍ﴾﴿لا يَمَسُّهُ إِلَّا المُطَهَّرونَ﴾** [الواقعة: 79]

دقرآن كريم لوى فضيلت داهم دى چي بغير دقرآن څخه لمونځ نه صحيح كيږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي **{لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب}** [رواه البخاري: 756 ]

دقرآن كريم فضيلت دادي چي نبي صلى الله عليه وسلم أبي بن كعب رضي الله عنه ته وفرمائيل **{إن الله أمرني أن أقرأ عليك القرآن فقال أبي ءالله سماني؟ قال نعم، فبكى أبي}** [رواه مسلم: 4515]

رسول الله صلى الله عليه وسلم أبي بن كعب ته وفرمايل ماته الله جل جلاله امر كړي چى زه تاته قرآن ولولم، أبي بن كعب وفرمايل چي آيا الله زما نوم ذكر كړي درته؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل آو الله راته ستا نوم ذكر كړي! أبي بن كعب دډيري خوشحالى نه په ژړا شو، داحديث په دى خبره دلالت كوي چي قرآن كريم ددنيا او آخرت عزت وركولو كتاب دي دهغه چا لپاره چي ددى په هداياتو او لار ښوونو عمل وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په كوم ځاي كي چي دقرآن كريم تعليم او تعلم كيږي په هغه مجلس او ځاي باندي دالله ج رحمت نازليږي او ملائک ورته حاضريږي په حديث كي راغلي دي **{ما اجتمع قوم في بيت من بيوت الله تعالى يتلون كتاب الله ويتدارسونه بينهم إلا نزلت عليهم السكينة وغشيتهم الرحمة وحفتهم الملائكة وذكرهم الله فيمن عنده }** [رواه مسلم: 2699]

دقرآن كريم دلوستونكو لوی فضيلت دادي چي دقيامت په ورځ به الله ج قاري دقرآن ته ووايي قرآن لوله او دجنت په درجو بره خيژه اخرني ايت چي په كوم ځای ختم شو همغه ستا ځای دی لكه حديث راغلي نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي **{يقال لصاحب القرآن إقرأ وارتق ورتل كما كنت ترتل فإن منزلک عند أخر آية تقرؤها}**

[رواه ابوداود: 1464]

دقرآن كريم دلسو، اوسلو،اوزرو اياتونو دلوستلو څومره فضيلت راغلي حديث كي راغلي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي **{من قام بعشر أيات لم يكتب من الغافلين ومن قام بمائة أية كتب من القانتين،ومن قام بألف أية كتب من المقنطرين}** [رواه أبو داود: 1398 ]

الله عزوجل دي قرآن كريم زمونږ دژوند أصلي هدف او لاربنود وګرځوي.آمين يارب العالمين.

## آداب تــلاوة الــقــرآن الــكــريــم

١/ دبدن او ځای پاكوالی، الله ج فرمايي **﴿إِنَّهُ لَقُرآنٌ كَريمٌ﴾﴿في كِتابٍ مَكنونٍ﴾﴿لا يَمَسُّهُ إِلَّا المُطَهَّرونَ﴾** [الواقعه: 79]

٢/ إخلاص پيداكول ځان كي، الله ج فرمايي **﴿وَما أُمِروا إِلّا لِيَعبُدُوا اللَّهَ مُخلِصينَ لَهُ الدّينَ حُنَفاءَ وَيُقيمُوا الصَّلاةَ وَيُؤتُوا الزَّكاةَ وَذٰلِكَ دينُ القَيِّمَةِ﴾** [البينة: 5]

٣/ دتلاوت دشروع كولو نه مخكي أعوذ بالله ويل، الله ج فرمايي **﴿فَإِذا قَرَأتَ القُرآنَ فَاستَعِذ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطانِ الرَّجيمِ﴾** [النحل: 98]

٤/ أحكام دتلاوت عملي كول، الله ج فرمايي **﴿وَرَتِّلِ القُرآنَ تَرتيلًا﴾** [المزمل: 4]

٥/ دتلاوت په وخت كي زړه متوجه كول، الله ج فرمايي **﴿إِنَّ في ذٰلِكَ لَذِكرىٰ لِمَن كانَ لَهُ قَلبٌ أَو أَلقَى السَّمعَ وَهُوَ شَهيدٌ﴾** [ق: 27]

٦/ دالفاظو په معنى كدي سوچ كول، الله ج فرمايي **﴿كِتابٌ أَنزَلناهُ إِلَيكَ مُبارَكٌ لِيَدَّبَّروا آياتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الأَلبابِ﴾** [ص: 29]

٧/ دالله ج دكلام تعظيم كول او عاجزی سره لوستل ،الله ج فرمايي **﴿لَو أَنزَلنا هٰذَا القُرآنَ عَلىٰ جَبَلٍ لَرَأَيتَهُ خاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِن خَشيَةِ اللَّهِ وَتِلكَ الأَمثالُ نَضرِبُها لِلنّاسِ لَعَلَّهُم يَتَفَكَّرونَ﴾** [الحشر: 20]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸/ قرآن په سكون او اطمنان اوژړا سره لوستل، الله ج فرمايي ﴿قُل آمِنوا بِهِ أَو لا تُؤمِنوا إِنَّ الَّذينَ أوتُوا العِلمَ مِن قَبلِهِ إِذا يُتلى عَلَيهِم يَخِرّونَ لِلأَذقانِ سُجَّدًا﴾﴿وَيَقولونَ سُبحانَ رَبِّنا إِن كانَ وَعدُ رَبِّنا لَمَفعولًا﴾﴿وَيَخِرّونَ لِلأَذقانِ يَبكونَ وَيَزيدُهُم خُشوعًا ۩﴾ [الاسراء: 109]

۸/ دتلاوت په وخت كي غوږ نيول اوچپ كښيناستل، الله ج فرمايي ﴿وَإِذا قُرِئَ القُرآنُ فَاستَمِعوا لَهُ وَأَنصِتوا لَعَلَّكُم تُرحَمونَ﴾ [الاعراف: 204]

## دقـرآن كـريم دلــوستــونـكــو فـضيـلت

۱/ قال عمر رضي الله عنه أما إن نبيكم صلى الله عليه وسلم قال **{إن الله يرفع بهذالكتاب أقواما ويضع به أخرين}**

[رواه مسلم: 1359]

عمر رضي الله عنه فرمايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي الله ج په دی كتاب باندې ډېرو خلكو درجي وچتوي او په همدي قرآن زيات خلک ښكته كوی.

۲/ عن عائشة رضي الله عنها قالت: **{قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة والذي يقرأ القرآن ويتعتع فيه وهو عليه شآق له أجران}** [رواه مسلم: 798]

عائشه رضي الله عنه فرمايي هغه څوک چي دقرآن لوستلو كي مهارت لري هغه به دنيكانو مشرانو ملائكو سره وي او هغه كس چي قرآن ويل ورته سخت دي دده لپاره دوه اجرونه دي.

۳/ عن عثمان رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: **{خيركم من تعلم القرآن وعلمه}** [رواه البخاري: 756] عثمان رضي الله عنه فرمايي چي نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي بهتر په تاسي كي هغه څوک دي چي قرآن ياد كړي او نورو ته يی وښايي.

دقرآن كريم لوستونكي لپاره دامناسب دي چي قرآن مجيد فقلاره په إطمنان او ارام سره تلاوت كړی ځكه الله ج فرمائيلي ﴿وَرَتِّلِ القُرآنَ تَرتيلًا﴾ [المزمل: 4]

۴/ حديث كي راغلي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي **{عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أشراف أمتي حملة القرآن وأصحاب الليل}** [رواه البيهقي في شعب الإيمان: 1239]

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دأمت غوره خلک دقرآن بارونکي يعني دتعليم او تعلم اوپه دى قرآن عمل کوونکي خلک دى او هغه څوک چي دشپي عبادت کوي.

## مـحــاســن الـتــلاوة

دتلاوت په وخت کي ددي شپږو محاسنو لحاظ ساتل پکار دى.

**۱/ ترتـيـل:** چي تلاوت په آرامه او اطمنان سره وکړاى شي او دتجويد دقواعدو لخاظ وساتل شي.

**۲/ تـجـويـد:** قرآني حروف دخپل مخرج نه دصفات لازمه او عارضه ؤ سره يو ځاى آداءکول.

**۳/ تـبـيـيـن:** هر حرف واضحه او صفاء آداء کول.

**۴/ تـرسـيـل:** الفاظ په نرمۍ سره لوستل او حروف پوره آداءکول او دحرف دپتولو او خوړلو نه ځان ساتل.

**۵/ تـحـسـيـن:** دتجويد موافق قرآن مجيد په خوش اوازۍ سره لوستل دعربو دلهجي موافق.

**۶/ تـوقـيـر:** باوقاره په خشوع خضوع سره تلاوت کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الإسناد الذي أدّى إلى رواية قالون

**{إِنَّـانَـحْـنُ نَـزَّلْـنَـاالـذِّكْـرَ وَإِنَّـالَـهُ لَـحَـافِـظُـوْنَ}**

**الإسناد من الدين ولولا لإسناد لقال من شآء ما شآء**

الحمدلله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه كما يحب ربنا ويرضى والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه الذين ساروا في نصرة دينه سيراً حثيثاً وعلى أتباعهم الذين ورثوا علمهم والعلماء ورثة الأنبياء أكرم بهم وارثاً وَّمورُوثاً.

**أمابعد:** فيقول العبد الفقير راجي عفو ربه القدير:/ المقرئ شاه ولي الله بن سيد محمد آخندزاده

قرأتُ القرآن الكريم برواية قالون عن نافع المدني من طريق الشاطبية على عدة مشائخ وقد أجازني كلُّ واحدٍ أخص بالذكر منهم،

١/ فضيلة الشيخ المقرئ حسام حامد العيثاوي العراقي

٢/ فضيلة الشيخ المقرئ عبدالباقي بن محمدالله الأفغاني

٣/ فضيلة الشيخة المقرئة شادية محمد البهلول السيد (شاديه عامر) (حفظهم الله ورعاهم)

١/ أما شيخي ومُعَلِّمِيْ حسام حامد العيثاوي العراقي فقد أكرمني الله وقرأت عليه القرآن برواية قالون عن نافع، وهوقال لي قرأت على الشيخ المحقق/ دكتور سعيد صالح زعيمة، وهو على الشيخ/ محمد بن عبد الحميد السكندري، وهو على الشيخ/ عبدالعزيز بن كُحَيل، وهو على الشيخ/ عبدالله بن عبدالعظيم الدسوقي، وهو على الشيخ/ عَلِيِّ الحدادي الأزهري، وهو على الشيخ/ إبراهيم بن بدوي العُبيدي، وهو على الشيخ/ عبدالرحمن بن حسن بن عمر الأجهوري وهو على الشيخ/ الشهاب أبي السماح أحمد بن رجب البقري الشافعي المصري وهو على الشيخ/ شمس الدين محمد بن قاسم بن إسماعيل البقري الأزهري الشافعي وهو على الشيخ/ عبدالرحمن بن شحاذة اليمني الشافعي المصري وهو على والده الشيخ/ شحاذة اليمني الشافعي المصري الأزهري وهو على الشيخ/ ناصر الدين محمد بن سالم الطبلاوي الشافعي وهو على الشيخ/ أبي يحى زكريا بن محمد بن أحمد الأنصاري الشافعي وهو على الشيخ/ زين الدين أبي النعيم رضوان بن محمد بن يوسف العقبي الشافعي وهو على الشيخ/ محمد بن محمد بن محمد بن علي بن يوسف الجزري الشافعي الدمشقي وهو على الشيخ/ أبي محمد عبدالرحمن بن أحمد بن علي بن المبارک البغدادي وهو على الشيخ/ تقي الدين محمد بن أحمد بن عبدالخالق المصري الشافعي وهو على الشيخ/ علي بن شجاع بن سالم العباسي الشافعي المصري المعروف بالكمال الضرير صهر الشاطبي وهوعلى إمام القراء وحجة المقرئين الشيخ/ أبي محمد القاسم بن فيره بن خلف أحمد الشاطبي الرعينى الأندلسي صاحب متن حرز الأماني ووجه التهاني في القراءات السبعة المعروف بالشاطبية وهو على الشيخ/ أبي الحسن علي بن محمد بن هذيل البلنسي وهو على

(c) ketabton.com: The Digital Library



الشيخ/ أبي داود سليمان بن نجاح الأموي وهو على الإمام الشيخ الحافظ المقرئ/ أبي عمرو عثمان بن سعيد بن عمر الداني الأموي، مؤلف كتاب التيسير في علم القراءات، وقد ذكر في كتابه هذا سند رواية قالون وسند قراءته نافع فقال:

أما إسناد رواية (قالون) عنه فحدثنا بها أحمد بن عمر بن محمد الجيزي، قال حدثنا محمد بن أحمد بن منير، قال حدثنا عبدالله بن عيسى المدني، قال حدثنا، قالون عن نافع، وقال أبو عمرو الداني وقرأت القرآن كله على شيخي، أبي الفتح فارس بن أحمد بن موسى بن عمران المقرئ الضرير،وقال لي قرأت على أبي الحسن عبدالباقي بن الحسن المقرئ، وقال قرأت على إبراهيم بن عمر المقرئ، وقال قرأت بها على أبي الحسين أحمد بن عثمان بن جعفر بن بؤيان، وقال قرأت على أبي بكر أحمد بن محمد بن الأشعث، وقال قرأت على أبي نشيط محمد بن هارون، وقال قرأت على قالون، وقال قرأت على نافع:

وأما إسناد قراءة نافع المدني: قال الإمام الداني، ورجال نافع الذين سماهم خمسة: أبو جعفر يزيد بن القعقاع القارئ، وأبو داود عبدالرحمن بن هرمز الأعرج، وشيبة بن نصاح القاضي، وأبو عبدالله مسلم بن جندب الهذلي القاص، وأبو رَوح يزيد بن رومان، وأخذ هؤلآء القراءة عن أبي هريرة، وابن عباس، وعبدالله بن عياش بن أبي ربيعة، عن أُبيّ بن كعب، عن النبي صلى الله عليه وسلم، عن الروح الأمين جبريل عليه السلام عن رب العزة جلَّ جلاله وتقدست اسماؤه.

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وصحبه أجمعين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الْـقُـرَّاءُ الْـعَـشْـرَةِ ورُوَاتُـهُـمْ

**جزى بالخيرات عنَّا أئمةً * لنا نقلوا القرآن عذباً وَّسلسلاً**

| الأئـمـة العشرة | اشهر من روى عنهم |
| --- | --- |
| ١/ نافع المدني: توفيَ عام: 169هـ ق | قالون: توفي عام: 220هـ / ورش: توفي عام: 197هـ |
| ٢/ عبدالله بن كثير المكي: توفي عام: 120هـ ق | البزّي: توفي عام: 250هـ / قُنبل: توفي عام: 291هـ |
| ٣/ أبو عمرو البصري: توفي عام: 155 هـ ق | الدوري: توفي عام: 246هـ / السوسي: توفي عام:261هـ |
| ٤/ إبن عامر الشامي: توفي عام: 118هـ ق | هشام: توفي عام: 245هـ / إبن ذكوان: توفي عام: 242هـ |
| ٥/عاصم الكوفي: توفي عام: 127هـ ق | شعبة: توفى عام: 193هـ / حفص: توفي عام: 180هـ |
| ٦/ حمزة الزيات الكوفي: توفي عام: 156هـ ق | خلف: توفي عام: 129هـ / خلَّاد: توفي عام: 250هـ |
| ٧/ الكسائي الكوفي: توفي عام: 189هـ ق | أبوالحارث: توفي عام: 240هـ / الدوري: توفي عام: 246هـ |
| ٨/ أبو جعفر المدني : توفي عام: 130هـ ق | إبن وردان: توفي عام: 160هـ/ ابن جُمَّاز: توفي عام: 170هـ |
| ٩/ يعقوب البصري: توفي عام: 205هـ ق | رُوَيْس: توفي عام: 238هـ / رَوْح: توفي عام: 235هـ |
| ١٠/ خلف البزار الكوفي : توفي عام 229هـ ق | إسحاق: توفي عام: 286هـ / إدريس: توفي عام: 292هـ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترجمة الإمام نافع المدني رحمه الله

هوأبو رُوَيم وقيل (أبو عبدالله) نافع بن عبدالرحمن بن أبی نُعَيم الليثي الأصبهاني، إمام دارالهجرة، أحد قراء السبعة في القراءة بعد أبي جعفر المدني، وُلد فی خلافة عبدالملک بن مروان، عام 70هـ ق: ثقة صالح كان عالماً بوجوه القراءة العربية، أقرأ الناس من أكثر سبعين سنة، كان أسود اللون.

امام نافع رحمه الله د 70 تابعینو نه علم قراءة حاصل کړی دی چې عبارت دي د شیخ أبو جعفر یزید بن قعقاع، أبوداود بن هرمز الأعرج دأبو هریره رضي الله عنه شاگرد دی،او قاضي شیبه بن نصاح، أبو رَوْح یزید بن رومان،او أبو عبدالله مسلم بن جندب الهذلي څخه،او دې پنځه واړه شیوخو قراءت حاصل کړی دي دعبدالله بن عیاش بن أبي ربیعة، او دأبو هریرة او د إبن عباس رضي الله عنه نه او دي دري صحابه کرامو قراءت حاصل کړی دی له أبي بن کعب رضي الله عنه نه، او دی جلیل القدر صحابي دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم نه قراءت حاصل کړی دی.

کرامت دإمام نافع رحمه الله دا و چې کله به یې تلاوت کوو دخولي نه به یې خوشبوی تلله، یوه ورځ ترینه چا پوښتنه وکړه چې شیخ صیب تاسو مخکې د دتلاوت دشروع کولو نه خوشبوی لگوی ؟ هغه ورته وویل نه ،خو حقیقت دادی چې ما یوه ورځ نبي صلی الله علیه وسلم په خوب کی ولیده ماته یی وویل تلاوت شروع کړه ما چې تلاوت شروع کړ نو ماته یی وویل خوله خلاصه کړه ما خوله خلاصه کړه په خوله کي یي راته مبارکی لاړي واچولي بیا دهمغي ورځي نه زما دخولي نه خوشبوی راوتل جاري شو او دیته إمام شاطبي په خپل کتاب حرز الأماني ووجه التهاني کي هم اشاره کړي ده **(فأما الكريم السر فی الطيب نافعٌ)**

- **قال الإمام مالک بن أنس: قراءة أهل المدينة سنة، فقيل له قراءة نافع! قال نعم.**
  مالک ابن أنس رحمه الله فرمايي دمديني دخلکو قراءت سنت دی،چاترینه پوښتنه وکړه،یعني قراءت دنافع یادوی،هغه وفرمایل آوْ.

- **قال عبدالله بن أحمد بن حنبل: سألت أبي أيُّ القراءة أحب اليک، قال قراءة نافع،فقلت له فإن لم يكن، قال قراءة عاصم.** عبدالله بن أحمد بن حنبل فرمايي ما دپلار نه پوښتنه وکړه، تاته په قراءتونو کي کوم یو محبوب دي! هغه راته وویل قراءت دنافع، ما ورته بیا وویل کچیري دانوي بیادرته کوم یو محبوب دي! هغه راته وویل بیا قراءت دعاصم.

- **قال المُسَيِّبي رحمه الله: قيل لنافع ما أصبح وجهک وأحسن خلقک قال فکيف لا أكون كذالک وقد صافحني رسول الله صلى الله عليه وسلم وقرأت عليه القرآن ، يعني فی النوم.**
  إمام مُسَيِّبيْ رحمه الله فرمايي إمام نافع ته چا وویل څومره عزتمند مخ او ښائسته أخلاق لري،هغه ورته وویل داسي به څنگه نه یم،حال دادي چي ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس راکړ،او ما په هغه باندي قرآن مجید ولوسته یعني په خوب کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **وقال قالون تلميذ نافع: وقد لازمه أكثر من عشرين سنة: كان نافع من اطهر الناس ومن أحسن الناس قراءة وكان زاهداً جواداً صلى فى المسجد النبي صلى الله عليه وسلم ستين سنة.**
قالون رحمه الله فرمايي ما دإمام نافع رحمه الله سره شل كاله تيركړل،إمام نافع ډير پاک او ښه انسان وو په خلكو كي،إمام نافع زاهد او سخي سړى وو،اوپه مسجد نبوې كي يې شپيته كاله لمونځ كړي.

- **وقال الأعشي رحمه الله: كان نافع يسهل القرآن لمن قرأ عليه، إلا أن يقول له الإنسان أريد قراءتک.**
إمام أعشي رحمه الله فرمايي إمام نافع په نرمي كوله دهغه چاسره چي ده ته به يې قرآن لوسته يعني دقرآن په اوريدو به نه تنګيده، مګر كه چا به ورته وويل ستانه قراءت اوريدل غوام،بيابه يې هغه ته لوسته.

- **ورويَ إسحاق المسيبي عن نافع: قال أدركت عدة من التابعين فنظرت إلى ما اجتمع عليه اثنان منهم فأخذته وما شذ فيه واحد تركته حتى الَّفت هذه القراءة.**
إسحاق المسيبي دإمام نافع نقل كړي،دافرمايي چي إمام نافع وايي:راګير كړي مي دي يوڅه اندازه تابعين ما وكتل په هغوى كي چي به دوه كسان متفق وو مابه دهغوى نه قراءت نقل كوو اوچي ديو كس به اختلاف پكي وو يعني يواځي به وو هغه به مي بريښوده تردي چي داقراءت مي راجمع كه.

- دإفتخار خبره خوداده چې دإمام نافع نه خپلو زياتو ملګرو هم قراءت حاصل كړى دى لكه إمام مالک بن أنس، أبو جعفر،عيسى بن وردان،سليمان بن جماز،إمام اسحاق، شاعر او نحوي إمام أصمعي، أبو عمرو بن العلاء،او خارجة مصعب الخراساني، عيسى بن مينا چي په قالون مشهور دى،او عثمان بن سعيد چې په ورش باندي شهرت لري، دى دواړو ترينه بلا واسطه روايت نقل كړي دى.

## دإمام نافع رحمه الله تاريخ وفات

كله چې إمام نافع مرګ رانږدي شو بچو يې ورته وويل مونږ ته وصيت وكړه ! هغه ورته دسورة الأنفال په دى أيت وصيت وكړ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصلِحوا ذاتَ بَينِكُم وَأَطيعُوا اللَّهَ وَرَسولَهُ إِن كُنتُم مُؤمِنينَ﴾ [الأنفال: 1]

## دإمام نافع دلومړي راوي قالون مكمل شهرت

**قالون: هو عيسى بن مينا بن وردان بن عيسى بن عبد الصمد ويكنى أبو موسى، لقّبه الإمام نافع(قالون) لجودة قراءته فإن قالون بلغة الرومية تعني (جيد) وكان قارئ المدينة المنورة، وكان أصم يُقرِئُ القراء ويفهم خطأهم ولحنهم بالشفقة.**

إمام قالون رحمه الله ته دقالون لقب خپل أستاذ إمام نافع وركړى، اول قالون په لغت درومى ژبه كي ښه ته وايي،إمام قالون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمديني منوري قاري وو،په غوړونو كوڼ وو او شاګردانو ته به يې قراءت کوو او دشاګردانو په غلطئ به په آسانئ سره پو هیده.

## دأمت دعلماء كرامو په ژبه دإمام قالون ستاينه

**۱/** أبو محمد البغدادي رحمه الله فرمایي: قالون رحمه الله په غوړونو کوڼ وو خو چي کله به ورته شاګردانو دقرآن مجید تلاوت کوو قرآن به يې اوريده.

۲/ إمام ابن أبي حاتم رحمه الله فرمایی چی امام قالون په غوړونو کوڼ وو چی شاګردانو به ورته تلاوت کوو ده به اوریده او دهغوئ غلطیاني به یې په اسانئ سره اصلاح کولي.

۳/ إمام قالون رحمه الله فرمايي چی ما په إمام نافع باندي بار بار قران مجيد واوريده دې چي ماته يی شمیر هم ندی یاد، يوه ورځ راته إمام نافع وويل چی ته اوس څو ځل په ما ته قرآن اوروې ؟ بیا يې راته أمر وکړ چي لاړ شه یوې ستنی ته کښینه چی زه تاته طلاب العلم درلیږم ته ترینه قرآن مجید اوروه.

## دإمام قالون تاريخ پيدايش او وفات

إمام قالون په خلافت دهشام بن عبدالملک کي په 120 هـ ق کي په مدينة منوره کي پيداشوي او په 220 هـ ق کي د سلو 100 کالو په عمر ددي فاني نړئ څخه رخصت شوی. رحمة الله علیه وجعل الجنة الفردوس مثواه.

## دإمام نافع ددوهم راوي ورش مكمل شهرت

**ورش: هوعثمان بن سعيد بن سليمان بن إبراهيم المصري القيرواني ويكنى أبو سعيد** ولد بِقَفْط بلد من صعيد مصر كان ثقة حجة وجيداً في القراءات وكان بارعاً في العربية ومعرفته في التجويد، وله حسن الصوت، رحل إلى نافع إلى المدينة المنورة ليقرأ عليه ،فقرأ عليه أربع ختمات ثم رجع إلى مصر أقرأ الناس مدة طويلة وانتهت إليه رئاسة الإقراء فی زمانه وذالک عام 155هـ ق، وقد لقبه بالورشان وهو طائر يشبه الحمامة لخِفَّة حركته، وقيل إن الورش شيئٌ يصنع من اللبن فلقبه شيخه لشدة بياضه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دإمام ورش تاريخ پيدايش او وفات

إمام ورش رحمه الله په 110هـ ق کې په مصرکي زيږيدلی او په 197هـ ق کې ددې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.الله عزوجل دی ترينه راضي شي.

## بعضې ضوابط او إصطلاحات

- دتلاوت په شروع کې دټولو قراء کرامو په نزد أعوذ بالله ويل ضروري دي.
- بسم الله ويل په إبتداء دتلاوت او إبتداء دسورت کې دټولو قراؤ په نزد لازمي اوضروري ده ماسيوا دسورة توبې نه، کچيرته إبتداء دتلاوت دمينځ دسورت څخه وي بيا دټولو قراؤ په نزد په بسم الله ويلو کې إختيار دلوستونکي دی لولي يې او که نه.
- **إبتداء فاتحة:** دسورة فاتحي په إبتداء کې دټولو قراؤ په نزد بسم الله ويل ضروري دي. او د ددوه سورتونو په مينځ کي دإمام قالون، إمام مکي، او إمام عاصم،او إمام کسائي په نزد بسم الله ويل ضروري دي مګر دوصل په صورت کي دإمام حمزه لپاره بسم الله ويل نشته دی، او دإمام ورش،إمام بصري، إمام ابن عامر الشامي په نزد بغير دبسم الله نه يا سکته کول دي او يا وصل کول دي، او په بسم الله ويلو کې إختيار دی.

- **مــدود:** داخبره په ياد ولرئ چې مد لازم په ټولو قسمونو کې دټولو قراؤ په إتفاق سره طول دی، او په مد عارض وقفي، او مد لين لازم، کې دري وجهي جائز دي طول، توسط، قصر، اوپه مد عارض لين کي دټولو قراؤ په إتفاق سره طول يا توسط دي.

- **التـحـقـيق: هو النطق بـه من غير تغير)** تحقيق وايي همزه دخپل مخرج نه په واضحه او صفاء طور باندي اداء کولو ته تحقيق وايي لکه **{ءَأَنذرتهم أم}** [البقرة: 6]

- **التسهيل: هو النطق بالهمزة مابين الهمزة وحرف المد)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسهيل وايي همزي لره دهمزي او دهغه حرف مده په مينځ كي اداء كول دخپل حركت موافق، يعني كچيري همزه مسهله مفتوحه وه دابه بين الهمزه والألف آداءكيرى لكه **{أَءَنْذرتهم}** اوكچيري همزه مسهله مضمومه وه نو

بيابه بين الهمزه والواو اداء كيرى لكه **{أَءُنْزِلَ}** [ص: 8] او كچيرى همزه مسهله مكسوره وه بيا به بين الهمزه والياء اداء كيرى. لكه **{أَءِلَـهٌ}** [النمل: 60] لكه څنګه چي إمام شاطبي فرمايي **(والمسهل بينما هوالهمز * والحرف الذي منه أشكلا)**

❖ **النَّـقل: هو إسقاط الهمزة ونقل حركتها إلى الحرف الساكن قبلها:** نقل وايي دهمزى غورځول او دهغي حركت مخكي ساكن حرف ته وركول لكه **{الْأَرْضَ} {الَارْضَ} {عَذاباً أَليماً} {عذاباً لِيْما}**

❖ **الإدخــال: هو إدخال الفٍ بين همزتين،** إدخال وايي الف ددوه همزو په مينځ كي داخلول يعنى هركله چى په يوه كلمه كي دوه همزي جمع شي لكه **{أَءَ نذرتهم} {اَانذرتهم}**

❖ **الإبـدال: هو تحويل الهمزة إلى الفٍ اوْ واوٍ اوْ يـاءٍ:** إبدال وايي بدلول دهمزي دي په الف محضه واو محضه ياي محضه سره لكه دالف مثال **{ يوم يَأْتِ } {يوم يَاتِ}** [هود: 105] دواو مثال **{ تُؤْتِي } { تُوْتِيْ}** [ابراهيم: 25] دياء مثال لكه **{جِئْتَ بالحق} {جَيْتَ بالحقّ}** [البقرة: 71] **{بِئْس} {بِيْسَ}** [الأعراف: 165] **{لِأَهَبَ لک} {لِيَهَبَ لک}** [مريم: 19] د امام قتلون لپاره په دې كلمه كي دوه وجي جائز دي، ١/ همزه په تحقيق سره ويل او همدا وجه ورله داداء په لحاظ مقدم ده. ٢/ همزه بدلول په خالصي ياء مفتوحي سره.ماسوى ددى ځاى نه امام قالون همزه په تحقيق سره لولي لكه **{ولا يطَؤُن موْطِئـا}** [التوبة: 120] **{خَاسِئَا وهو}** [الملک: 4] **{مُلِئَتْ حرَساً}** [الجن: 8]

❖ **الإسـقـاط: هـو عدم النطق بالهمز)** همزه غورځول او تلفظ وربانډي نه كولو ته إسقاط وايي لكه مثال: **{رب العالمين}**

❖ **الصـلـة:** په ضمه او كسره كي كيرى ، يعنى ضمه دواو مده په اندازه او كسره ديايى مده په اندازه غځولو ته صله وايي لكه **{ لَهُ} { لَهُوْ} { فِيْهِ} { فِيْـهيْ}**

بيا صله په هـاء ضمير او ميم دجمع كي هم كيري، كچيري دهـاء ضمير او ميم دجمع نه روسته همزه راغلي وي ديته صله كبرى وايي لكه **﴿ فَأَنساهُم أَنفُسَهُم أُولئِكَ هُمُ الفاسِقونَ﴾** [الحشر: 19]

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَما يَعلَمُ تَأويلَهُ إِلَّا اللَّهُ﴾ [آل عمران: 7]

❖ **الإمـالـة:** الف دياء طرف ته او فتحه دكسري طرف ته مايله كولو ته إماله وايي، كچيري داداء په وخت كي ميلان زيات وي ياء طرف ته ديته إماله كبرى، محضه،اواضجاع هم وايي،او كه ميلان ياء طرف ته كم وو بيا ورته إماله صغرى، بَيْنَ بَيْن، اوتقليل هم وايي. او داقسم إمالي دقالون او دورش روايت كي زياتي دي، او دحفص روايت كي إماله يې كبرى يو ځاي راغلي په كلمه د **{مـجـريـهـا}** كي.[هود: 41]

❖ **تثليث:** يا ثلاثة البدل: قصر، توسط، او طول درى واړه جمع كول په مد بدل كي، او دا يواځي خاص دي دإمام ورش لپاره.

❖ **الإختلاس:** دحركت دوه برخي اداء كول يعني حركت چي دري تقسيمه كړى دوه برخي يې اداء كول او يوه برخه يې پريخودلو ته إختلاس وايي لكه په كلمه د**{لاتـأمنَّنَا}** [يوسف: 11] كى چى دحفص لپاره يوه وجه إختلاس مع الإظهار دى. يعني لومړى نون به لږجلتى سره ولولي، او په كلمه د**{نِـعِـمّـا}** [النساء: 58] **او {لا تَـعْـدوا}** [النساء: 154] كي إختلاس شوى دقالون لپاره.

❖ **الرَوْم: هو اسماع الحركة للقريب دون البعيد:** روم وايي دحركت اورول دى نزدى كس ته چي لري نه وي.

روم په ضمه او كسره كي كيږي يعني دضمى او كسري دريمه حيصه اداء كولو ته روم ويل كيږى. كله چي دضمي اوكسري حركت درى تقسيمه كړي يوه برخه حركت اداء كول او دوه برخي پريخودلوته يي روم وايي لكه **{والفجرِ} {وليالٍ عشرٍ} {قـديـرٌ}**

**حالات الروم:** په كومو كلماتو كي چى روم كيږي دهغي لپاره دري حالتونه دي.

١/ روم په هغه كلمه كي كيږي چي دهغي ماقبل اخر حرف دمد حرف نه وي، لكه مثال: **{وانشق القمر}** [القمر: 2] **{ سحرٌمستمر}**

٢/ روم په هغه كلمه كي كيږي چي دهغي ماقبل اخر حرف مد اصلي يا مد طبيعي نه وي، لكه **{الرحمن الرحيم} {مالك يوم الدين} {عذاب اليم}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣/ روم په هغه کلمه کي کيږي چي دهغي ماقبل اخر حرف مد متصل وي، لکه **{ءأنتم أشد خلقا أم السماء}** [النازعات: 28] **{كمآ أمن السفهاء}** [البقرة: 13] په دي نوموړو دوه کلماتو کي مد نه کيږي مګر په حالت دوصل کي دري يا څلورو حرکتونو په مقدار مد کيږي.

❖ **الإشمام: وهو لغة مشتق من الشم: كأنک أشممت رائحة الحركة:** اشمام په لغت کي اخيستل شوی د(الشم) کلمي څخه، لکه چی تابوی کړ په حرف باندي بوی دحرکت. **وفي الإصطلاح وهو عبارة عن ضم الشفتين بعد سكون الحرف من غير صوت:** په اصطلاح کي اشمام وايي دضمي والا حرف ساکن کول اوداوآز نه پرته دضمي طرف ته په شونډو سره إشاره کول، اشمام ديته هم وايي چي ته په خپلو شونډو باندي تلفظ دضمي وکړي، اوإشمام

❖ يواځي په ضمه کي کيږي لکه **{نستعينُ}** د إشمام بل صورت دإمام حمزه په نزد دادي چي يو حرف ته دبل حرف بوی ورکړی شي لکه د**{الصّراط}** په کلمه کي صاد ته دزای حرف بوی ورکول.دإشمام بل صورت، په يو حرکت کي بل حرکت داخلول لکه د**{قِيْلَ}** او **{سِيْئَتْ}** کلمو په کسروکي دشونډو انضمام کول.

❖ **الإبتداء:** هو **الشروع في القراءة ابتداءً اوبعد التنفس في أثنائها سواءً في الصلاة او في غيرها)**
شروع کول دي په تلاوت اوقراءت کي ابتداءً يا روسته دساه اخستلونه په منځ دتلاوت کي، په لمانځه کي وي يا په غير دلمانځه نه.

❖ **الوقف: في اللغة الكف والحبس)** وقف په لغت کي ودريدلو ته وايي.
**وفي الإصطلاح قطع الصوت على الكلمة زمنا يتنفس فيه عادةً بنية الإستناف القراءة لابنية الإعراض)**
کټ کول داوآز اوساه دي دلږ وخت لپاره چی ساه واخلي لپاره دشروع کولو دتلاوت، نه په نيت دپريښودلو دتلاوت.

❖ **السكت:** سکته ديته وايي چي اوآز بند کړي شي لږه موده چي دوقف دمودې نه لږ وي په غير دساه اخستلو نه په نيت دإستمرار دتلاوت، او بعضي قراء کرام ورته **وُقَيْفَةٌ لَطِيْفَةٌ** نوم أخلي.

❖ **القطع: هو قطع الصوت على الكلمة بقصد الكف عن القراءة والإنتقال عنها إلى أمرٍ أخر)** اوآز کټ کول دي دتلاوت نه په نيت دپريښودلو دتلاوت اودبل کار په شروع کولو کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الفرق بين القراءة، والرواية، والطريق، والوجه

❖ **القراءة: كلُّ خلاف ينسب الإمام من الأئمة العشرة مما أجمع عليه الرواة فإنه قراءة فيُقال مثلاً قراءة نافع،وقراءة عاصم )** دقرآن كريم دلوستلو ځانګړې طرز دېتولو راويانو په اتفاق يو إمام ته وشي هغه قراءت بلل كيږي، يعني كله چي دإختلاف نسبت يا ديوي وجهي قاري ته وشي دچانه چي روايت نقل كړي شوي وي لكه دنافع، عاصم ،اوابن كثير وغيره ديته قراءة وايي. مثال **{ملک يوم الدين}** [الفاتحة: 3] قراءت دامام عاصم **{مالک}** په اثبات دالف سره دی او دا شامل دی دواړه راويانو دامام عاصم ته چی حفص او شعبه دی.

❖ **الرواية: كل مانسب إلى الراوي عن إمام من الأئمة واتفقت الطرق عنه ولوبواسطة فيُقال مثلاً رواية قالون عن نافع، ورواية حفص عن عاصم.**

ديو راوي لخوا دقرآن كريم دلوستلو يو ځانګړي طرز نسبت چي كله يو إمام ته وشي هغه طرز او طريقي ته روايت وايي مثلاً دقالون روايت له نافع نه، اودحفص روايت له عاصم نه او داسي نور،او دهريو امام دوه راويان دي چی دلسو امامانو مجمومه شل راويان برابريږی لكه روايت حفص عن عاصم مثال يې **{كفواً أحد}** [الإخلاص: 4] إمام حفص كفواً كلمه په واو سره لولي او د شعبه په روايت كي **{كفوءًا}** كلمه په همزی سره لولي.

❖ **الطـريـق: كل مانُسب للأخذ عن الراوي وإن سفل فهو طريق)**

كله چی داختلاف نسبت درواي شاګرته وشي اګر كه دهغه شاګرد په مينځ كي واسطه هم وي ديته طريق وايي لكه طريق دشاطبي، يا طريق دازرق اوهمداسي نور طُرُق لكه مثال **{في الخلق بصطة}** [الأعراف: 69] إمام حفص يي دطريق دشاطبي نه په سين سره لولي او دطريق دطيبة النشر نه يي په په صاد سره لولي.

❖ **الـوجـه: ماكان القارئ مخيراً فيه وجهٍ من الوجوه)**

دلوستلو ډيرو طريقو كي چی كله لوستونكي إختيارلري هغي ته وجـه ويل كيږي يعني چي په كومه جائزه وجه عمل كوي لكه مد عارض وقفي، په كلمه د**{الـعالمين}** كي په دي كي دري وجهی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١/ طول، ٢/ توسط، ٣/ قصر ، چي په کومه وجه لوستونکی عمل کوي جائزده ورله لکه مثال: **{خلقكم من ضَعفٍ}** [الروم: 54] په نوموړي کلمه کي دحفص لپاره دطريق دشاطبي نه دوه وجهي جائز دي.اوله وجه په فتحي دضاد سره لکه **{من ضَعْفٍ}** اوپه ضمي دضاد سره لکه **{من ضُعْفٍ}** [طيبة النشر في القراءات العشر: ١٩٠/١]

## الـفـرق بـيـن الأداء والـتـلاوة والـقـراءة

**١/ آداء:** ديته ويل کيږي چي أستاذ يي شاګرد ته لولي لکه نوي درس ويل او شاګرد يي أستاذ ته اوروي لکه پاو ياسپاره.

**٢/ تـلاوت:** ديته وايي قرآن مسلسل لوستل يا يي بل ته اورول، يا شاګرد ته وظيفه ورکول دسپارو دګردان.

**٣/ قـراءت:** دا عام دي آداء او تلاوت دواړو ته شامل دي.

## مـراتب الـتـلاوة

**١/ التحقيق:** قرآن کريم په آرام اوسکون سره لوستل بغير زيادت او نقصان نه سره دلحاظ ساتلو دصفات لازمه او عارضه ۇ نه يعني هر حرف ته خپل حق ورکول لکه مد کول ،حرکات پوره اداءکول، مفخم حروف ډک لوستل، او مرقق حروف باريک لوستل.

**٢/ الـحـدر:** قرآن کريم په جلتی لوستل، سره دلحاظ ساتلو دټولو احکامو دتجويد نه په دقت سره لکه په تراويحو کي چي داقسم تلاوت کيږی او دا حدر إمام قالون او إبن کثير او أبو عمرو البصري رحمهم الله إختيار کړی.

**٣/ الـتـدويـر:** قرآن کريم دتحقيق او دحدر په مينځ کي لوستل چي نه دتحقيق په شان فقلاره وي او نه دحدر په شان زر زر وي لکه په فرضي لمونځونو کي چی کيږی او دا تدوير إمام ابن عامر او إمام کسائي رحمهما الله غوره کړي دی.

**۴/ الـتـرتـيـل:** ترتيل وايي دحروفو صحيح لوستل او وقفونه پيژندل، البته ترتيل دې مذکوره دري واړو مرتبو ته شامل دی يعني هر توري ته خپل حق ورکول اوپه آرامه تلاوت کول لکه په جلسو او إجتماعاتواو دتعليم په وخت کي، اودا ترتيل إمام ورش، عاصم، او حمزه رحمهم الله إختيار کړی، او دې ترتيل ته بعضي قراء تحقيق يا مشق هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الـفـرق بـيـن الـقـارئ والـمـقـرئْ

**١/ القارئ:** قاري وايي لوستونكي ته، يا قاري هغه چاته وايي چي قرآن كريم يې په يادو حفظ كړى وي.

بيا قارئ كلمه دقراءت علماؤ په دري برخو تقسيم كړى دي.

**١/ القارئ المبتدي:** مبتدى قاري هغه ته وايي چي په دري روايتونو پوهيږي.

**٢/القارئ المتوسط:** متوسط قاري هغه ته وايي چي په څلورو يا پنځو روايتونو پوهيږي.

**٣/ القارئ المنتهي:** منتهي قاري هغه وايي چي په زياتو او مشهورو قراءتونو باندي پوهيږي.

**٢/ المقرئ:** مقري هغه چاته وايي چي نورو ته قرآن ښايي. يا مقري هغه چاته وايي چي په قراءتونو پوهه ولري او مخامخ دخپل شيخ او استاذ نه روايت نقل كړي او سند رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورسوي او دخپل شيخ لخوانه ده ته اجازه وركړل شي نورو ته تعليم.

## دهر علم دشروع كولو نه مخكي يو څو خبري يادول ضروري دي

- **تعريف دعلم القراءات: هوعلم تعرف به كيفية آداء كلمات القرآن واختلافها)**

  دايو علم دى چي په دي سره پيژندل كيږى طريقه داداء كولو دقرآني كلماتو او اختلاف دهغي.

- **مـوضـوع دعلم القراءت: الكلمات القرآنية من حيث أدائها )**

  موضوع يې قرآني كلمات دي د آداء دحيثيت نه.

- **غرض دعلم القراءات: معرفة مايقرأ به أئمة القراءة ومالا يقرأبه)**

  پيژندل دهغه څه دي چي دقراءت إمامانو لوستلي او هغه څه چي يې ندي لوستلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **ثمره او ګټه دعلم القراءت: العصمة من الخطأ في كتاب الله)** دالله ج په کتاب کي ځان دغلطی او خطايي نه ساتل.

**سلسلة السند: هي سلسلة الرجال الذين نقلوا لنا القرآن مشافهة كل واحد منهم قرأ على شيخه وشيخه على شيخه هكذا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن آمين الوحي جبريل عليه السلام عن رب العزة جل جلاله.**

سند دراويانو هغه سلسله ده چي مونږ ته مشافهة قرآن رارسولي پدي توګه چي هر راوي مستقيماً او مخامخ دخپل أستاذ نه قرآن لوستلي او أستاذ يي له خپل أستاذ نه تر دې چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دغه لړۍ ورسيږي چي هغه صلى الله عليه وسلم قرآن دوحي له آمين جبريل عليه السلام نه أخيستی دی او هغه له رب العزت جل جلاله لخوا څخه.

**سلسلة السند برواية قالون عن نافع المدنى من طريق الشاطبية بالسند المتصل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم**

عن رب العزة جل جلاله وتقدست أسماؤه

عن الروح الأمين جبريل عليه السلام

عن النبي صلى الله عليه وسلم

عن الصحابة (1) أبوهريرة، وابن عباس، وعبدالله بن عياش بن ابي ربيعة، عن أبى بن كعب ، رضي الله عنهم أجمعين

عن التابعين (2) أبو جعفر بن يزيد،وأبو داود عبدالرحمن بن هرمز الأعرج، وشيبة بن نصاح القاضي،وأبو عبدالله مسلم بن جندب الهذلي، وأبو رَوْح يزيد بن رومان ،رحمة الله عليهم أجمعين

عن الإمام (3) أبو موسى عيسى بن مينا المدني الملقب قـالـون

عن الإمام (4) أبو رويم نافع بن عبدالرحمن المشهور نافع المدني

عن الشيخ (5) أبى نشيط محمد بن هارون

عن الشيخ (6) أبي بكر بن أحمد بن محمد بن الأشعث

عن الشيخ (7) أبي الحسين أحمد بن عثمان بن جعفر بن بويان

عن الشيخ (8) إبراهيم بن عمر المقرئ

عن الشيخ (9) أبي الحسن عبد الباقي بن الحسن المقرئ

عن الشيخ (10) أبي الفتح فارس بن أحمد بن موسى بن عمران المقرئ الضرير

عن الشيخ (11) أبي عمرو عثمان بن سعيد بن عمر الداني الأموي

عن الشيخ (12) أبي داود سليمان بن نجاح الأموي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن الشيخ (13) أبي الحسن علي بن محمد بن هذيل البلنسي

عن الشيخ (14) أبي محمد قاسم بن فِيْرُّه الشاطبي

عن الشيخ (15) علي بن شجاع بن سالم العباسي المعروف بالكمال الضرير

عن الشيخ (16) تقي الدين محمد بن أحمد بن عبدالخالق المصري

عن الشيخ (17) أبي محمد عبدالرحمن بن أحمد بن علي البغدادي

عن الشيخ (18) محمد بن محمد بن محمد بن علي بن يوسف الجزري الدمشقي

عن الشيخ (19) زين الدين أبي النعيم رضوان بن محمد بن يوسف العقبي

عن الشيخ (20) أبي يحى زكريا بن محمد بن أحمد الأنصاري الشافعي

عن الشيخ (21) ناصرمحمد بن سالم الطبلاوي الشافعي

عن الشيخ (22) شحاذة اليمني الشافعي المصري

عن الشيخ (23) زين الدين عبدالرحمن بن شحاذة اليمني

عن الشيخ (24) شمس الدين محمد بن قاسم البقري الشافعي

عن الشيخ (25) أبي السماح أحمد بن رجب بن محمد البقري المصري الشافعي

عن الشيخ (26) عبدالرحمن بن حسن بن عمر الأجهوري المالكي

عن الشيخ (27) إبراهيم بن بدوي العبيدي

عن الشيخ (28) علي الحدادي الأزهري

عن الشيخ (29) عبدالله بن عبدالعظيم الدسوقي

عن الشيخ (30) عبدالعزيز بن كُحَيْل

عن الشيخ (31) محمد بن عبدالرحمن الخليجي

عن الشيخ (32) محمد بن عبدالحميد السكندري

عن الشيخ (33) دكتور سعيد صالح زعيمة

عن الشيخ (34) حسام حامد العيثاوي العراقي

على المقرئ (35) شاه ولي الله بن سيد محمد آخندزاده

قرأ الأخ الفاضل(36) ............

فبين المقرئ المجيز: شاه ولي الله بن سيد محمد وبين رسول الله صلى الله عليه وسلم (34) رجلاً وهو سند عالٍ جداً.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قراءاتو اختلاف په دوه قسمه دي

١/ **كُلِّــي:** كُلِّي إختلاف ته إختلاف أصـول هم ويل كيږى.

٢/ **جـزئِ:** جُـزِيْ اختلاف ته اختلاف فُرُشى هم ويل كيږي.

- **أصـول:** أصول جمع د اصل ده او أصل په لغت کی وايي **(أساس الشيئ ٍ وهومايبني عليه غيره، او هو يفتقره ولايفتقر إلى غيره)** أصل وايي اساس اوبنياد ديوشي ته ، چی بل شي په دی باندي قائم وي، يابل شي دیته محتاج وي اودا بل شي ته محتاج نه وي لکه مثال: دديوال بنياد، يا دوني ستِه چي دايي أصل دی او څانګي يي فرعه ده.**{قال الله عزوجل: ومثل كلمة طيبة كشجرة طيبة أصلها ثابت وفرعها في السماء}** [الرعد: 24] او په متل کي ويل شوي **(من حرم الأُصول فقد حرم الوُصول)** څوک چي دأصل نه محروم شو مقصد ته درسيدلو نه محروم شو.
- **وفى الإصطلاح: هي القاعدة الكلية ينطبق حكمها على كل جزْئِياتها، كالمد والقصر والإمالة وماشابه ذالك)**

داهغه قاعده کليه ده چي حکم يي په ټولو جزياتو باندي تطبقيږی، يعني چي ديوقانون اوقاعدي لاندي راګير وي لکه مد، قصر إماله اوددي په شان نور.لکه مثال: هري دوه مفتوحي قطعي همزي چي په يوه کلمه کي پرلفسي راشي، امام قالون ددواړو نه په يوه کي تسهيل کوي سره دادخال نه لکه: **{ءَأنـذرتـهم * قال ءَأقررتم}** په غير ددي دري کلمونه چي په دی کي قالون تسهيل کوي په غير دادخال نه لکه: **{ءاأمنتم * ءائمة * ءاألـهتنا}** او په کلمه د **{أشهدوا}** کي قالون ادخال اوعدم ادخال دواړه جائز ګني لکه: **{ءَاوُشهدوا}**

- **الـفـرش: فى اللغة البسط والنشر)** فرش په لغت کي خوريدلو ته وايي.
- **وفى الإصطلاح: هو الأحكام الخاصة ببعض الكلمات القرآنية المُختَلَف فيها بين القراء مع عزو كل قراءة لصاحبها نحو {مـلـك يوم الدين} فقد قرأ عاصم والكسائي ويعقوب بإثبات الألف بعد الميم، وقرأ الباقون وهم نافع وبن كثير وأبو عمرو وبن عامر بحذفها هكذا}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرشي حروف داهغه أحكام خاصَّه دى چې بعضي  كلماتو دقرآن پوري خاص دى اودكومي قاعدي لاندي راګيرندي او په همدغه كلماتوسره په تواتر رانقل شوى دى. لكه كلمه د**{مــالک}** چې إمام عاصم او كسائي او امام يعقوب  يې په إثبات دالف سره لولي او إمام نافع اوابن كثير اوأبو عمرو او ابن عامر يې دالف په حذفولو سره لولي لكه: **{مَلِک يوم الدين}**

## أحــكـام الإستـعـاذة والـبـسـمـلـة

**بـاب الإستعاذة:** قال الإمام الشاطبي رحمه الله:

**(إذا ما أردْتَّ الدهر تقرأُ فاستعذ *  جهاراً من الشيطن بالله مسجلا * على ما أتى في النحل يُسراً وإن * تزد لربک تنزيهاً فلست مجهَّلا)**

### حــكـم الإستعاذة

**١/** دإمام عطاء، سفيان ثوري او إمام اوزاعي رأيه داده چې أعوذ بالله ويل په إبتداء دتلاوت كي واجب ده، په دي دليل **{فإذا قرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطن الرجيم}** [النحل: 98]

**٢/** دإمام أبو حنيفه او إمام شافعي  رأيه داده چي دتلاوت په إبتداء كي أعوذ بالله ويل مستحب دي،او په دليل كي يې حديث دمسيئ الصلاة راوړى **{ إذا قمت إلى الصلاة فكبر ثم اقرأ ماتيسر معک من القرآن ثم اركع..}**الخ [رواه البخارى:١/ ٢٦٣ ومسلم:٢٩٨/١ ] ولم يذكر الإستعاذه.په دى حديث كي دأعوذ بالله يادونه نده شوى.

### حــكـم الإستعاذة بعد قطع القراءة

١/ كله چي دتلاوت په منځ كي بل كوم عارض واقع شي لكه پرنجى وغيره ياداسي خبره  چي تلاوت پوري تعلق لري بيا دأعوذبالله ويل نشته دي.

٢/ كله چي تلاوت منځ كي داسي عارض واقع شي چي تلاوت پوري تعلق نه لري بيا أعوذ بالله ويل ضروري دي اګر كه دسلام جواب ولي نه وي.

### مـتـــى تـقــرأ جـهـراً بالإسـتـعـاذة

١/ دقرأت په شروع كي په ديني محفلونو، دحسن قراءت مسابقو وغيره كى أعوذبالله په ښكاره ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲/ په مقام دتعليم او تعلم كي أعوذبالله په بنكاره ويل.

په لمونځونو كي أعوذبالله په پټه ويل  كه هغه إمام وې او كه مقتدي.

## أوجــه الإسـتـعـاذة مع الـبـسـمـلـة والإبتداء في الـسـور ماعدا سـورة الـتـوبة فـيـجـوز لـقـالون أربـعـة أوجـه:

۱/ قطع الجميع: **{أعوذ بالله من الشيطن الرجيم * بسم الله الرحمن الرحيم * والعصر}**

۲/ وصل الحميع: **{أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الرحمن الرحيم القارعة}**

۳/  وصل الإستعاذة باالبسملة وقطعهما عن اول السورة: **{أعوذ بالله من الشيطن الرحيم بسم الله الرحمن الرحيم * قل هوالله أحد}**

۴/ قطع الإستعاذة عن البسملة ووصل البسملة بأول السورة: **{أعوذ بالله من الشيطن الرجيم * بسم الله الرحمن الرحيم قل هوالله أحد}**

## أوجــه الإســتـعـاذة مــع ســورة الــتــوبــة

كله چې لوستونكى دسورة توبې نه تلاوت شروع كوي، بسم الله ويل ورله نشته، اودوه وجهي ورله جائز دي

۱/ قطع الإستعاذة عن أول السورة دون البسملة **{أعوذ بالله من الشيطن الرجيم * برآءة من الله}**

**۲/** وصل الإستعاذة بأول سورة التوبة دون البسملة **{أعوذ بالله من الشيطن الرجيمِ برآة من الله}**

## أحــكــام الــبــســمــلــة

قال الإمام الشاطبي رحمه الله: **(ولابد منها في ابتدائک سورةً * سواها  وفي الأجزاء خير من تلا)**

۱/ دقالون په نزد په إبتداء دټولو سورتونو كي بسم الله ويل واجب دي ماسيوا دسورة توبې نه.

۲/ لوستونكي لپاره إختيار دی چې په منځ دسورتونو كي بسم الله وايي او كنه.څوک چې بسم الله نه لولي هغوی وايي چې دامحل د بسم الله ندي او څوک چې يې لولي هغوی يې تبركاً وايي.

## أوجــه الــجــمــع بـيـن الـسـورتـيـن لـقـالـون

۱/ وصل الجميع: **{وتواصوا بالصبر بسم الله الرحمن الرحيم ويل لكل همزة لمزة}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢/ قطع الجميع: {ويمنعون الماعون * بسم الله الرحمن الرحيم * إنآ أعطينک الکوثر}

٣/ قطع أخر السورة ووصل البسملة بأول السورة: { ولم يكن له كفواً أحد * بسم الله الرحمن الرحيمِ قل أعوذ برب الفلق}

## أوجـه الـجـمـع بـين سـورة الأنـفـال وسـورة الـتـوبـة

قال الإمام الشاطبي رحمه الله: **(ومهما تصلها اوبدأت براءة * لتنزيلها بالسيف لست مبسملا)**

**١/ الوقف:** په سورة أنفال اخر وقف كول ساه او اواز دواړه قطع كول ددوه حركتونو په اندازه بيا إبتداء دسورة توبې نه كول بغير دبسم الله دويلونه.

**٢/ السكت:** دسورة أنفال په أخر سر لړ ودريدل ددوه حركتونو په أندازه بغير دساه دأخستلو نه، بيا شروع كول په سورة توبه باندي.

**٣/ الوصل:** دسورة أنفال اخره كلمه دسورة توبې دلومړۍ كلمې سره وصل كول بغير دبسم الله دويلو نه.

## أصـول قالـون ميـم الجـمـع

قال الإمام الشاطبي رحمه الله: **( وَصِل ضم ميم الجمع قبل محركٍ * دراكاً وقالون بتخييره جلا)**

ميم دجمع داهغه ميم دی چې دلالت كوي په جمع مذكر غائب باندي.

**ومن علامة ميم الجمع:** علامه دميم دجمع داده

١/ هركله چې ميم دجمع حذف كړی شي دكلمې په معنی كې نقصان نه راځي لكه {عليكمْ} { عليک}

٢/ دميم جمع نه به مخكې دادري حروف وي.

١/كاف مضمومه لكه {منـكُـمْ} ٢/ تـاء مضمومه لكه {كنـتُـم} / هــاء مضمومه اوهاء مكسوره لكه {أموالـهُـمْ} او{عليـهِـمْ}

**حكم ميم دجمع:** هركله چې ميم دجمع نه روسته متحرك حرف راشي په غير دهمزي نه دقالون لپاره يكی دوه وجهي جائزدي.

**١/ الإسكان:** سكون سره ميم دجمع لوستل لكه {هُمْ يُوْقنون} [البقرة: 4]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٢/ الصلة:** صله کول په میم دجمع کي په واو مده سره په مقدار ددوه حرکتونو دمد أصلی په شان لکه **{أنعمتَ عليهمْ غير المغضوب عليهمْ}** [الفاتحة: 7] خوپه دي دواړو وجهو کي په میم دجمع کي سکون مقدم دی دقالون لپاره.

**قاعدة:** هرکله چي میم دجمع نه روسته همزه قطعي راشي دقالون لپاره په کی دوه وجهي جائز دي.

١/ توسط کول په میم دجمع کي دمد منفصل په مقدارلکه **{خيركم إنْ كنتم تعلمون}** [البقرة: 280]

٢/ میم دجمع دسکون سره ویل، البته دقالون لپاره سکون مقدم دي لکه **{واذا قيل لهُمْ ءَامنوا}** [البقرة: 13]

خو ددي قاعدي نه یو لفظ مستثنی دي په سورة الحاقَّة په کلمه د **{هـآؤُمُ اقرؤا}** [الحاقة: 19] کي داپه معنی د **{هلُمُّوا إقرءُوا كتابية}** أيْ خلکو راشئ زما عمل نامه ولولئ.

**قاعدة:** هرکله چي دمیم ساکن څخه وروسته بل ساکن حرف راشي بیابه میم دجمع ته ضمه ورکول کیږي اوصله به پکي نه کیږي دوجی دخلاصون داجتماع ساکنین نه لکه **{جاءتهمُ البينت}** **{عليكمُ الصيام}** **{بهمُ الأسباب}** **{همُ المفسدون}** **{همُ المفلحون}**

خو کله چي لوستونکي په میم دجمع باندي وقف کوي بیابه صله حذف کیږي او میم دجمع به په سکون سره لوستل کیږي لکه دإمام حفص رحمه الله په شان.

## باب المد والقصر

### ➢ المد الواجب المتصل:

مد متصل واجب داهغه مد دی چي حرف مد او سبب مد په یوه کلمه کي راغلی وي او دڅلورو حرکتونو په مقدار غځول کیږي د یو قول مطابق یعني توسط سره لکه مثال يي: **{ السمآء * سيئت * سوءاً}**

➢ **قاعدة:** دقالون لپاره په مد متصل کی توسط کیږي او په مد منفصل کي ورله دوه وجهي جائز دي. ١/ **قصر** ٢/ **توسط** خو په دي دواړو وجهو کي قصر مقدم دی.

### ➢ المد الجائز المنفصل:

مد منفصل جائزديته وايي چي حرف مد په یوه کلمه کي وي او سبب مد چي همزه قطعي ده په بله کلمه کي وي خوپه مقدار دغځولو کي يي دوه وجهي دي.

١/ **قصر** دي ددوه حرکتونو په مقدار او همدا وجه مقدم ده دادآء په لحاظ سره.

٢/ **توسط** دي دڅلورو حرکتونو په مقدارلکه

مثال يي: **{فيْ أُمها رسولا}** [القصص: 59] **{إنآ أعطينک}** [الکوثر:1] **{وأمره إلى الله}** [البقرة: 275]

په مد منفصل پسي صله کبری او میم دجمع هم ترل شوي. دإمام قالون لپاره پکی دوه وجهی دی.

١/ **قصر**: همدا مقدم دي.

٢/ **توسط**.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طُـــرُق قـــــالــــون

## أوجه القراءة عند إجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل

﴿وَإِذا قيلَ لَهُم لا تُفسِدوا فِي الأَرضِ قالوا إِنَّما نَحنُ مُصلِحونَ﴾ [البقرة: 11]

۱/ په میم دجمع کي سکون اوپه مد منفصل کي قصر.
۲/ په میم دجمع کي سکون اوپه مد منفصل کي توسط .

**یادونه:** میم دجمع په خپل أصلي حالت پاتي کیږي تغیر فقط په مد کي راځي.

۳/ په میم دجمع کی صله اوپه مد منفصل کي قصر.
۴/ په میم دجمع کي صله اوپه مد منفصل کي توسط.

## إجتماع المد المنفصل مع ميم الجمع

﴿وَالَّذينَ يُؤمِنونَ بِما أُنزِلَ إِلَيكَ وَما أُنزِلَ مِن قَبلِكَ وَبِالآخِرَةِ هُم يوقِنونَ﴾ [البقرة: 4]

هرکله چی مد منفصل مقدم وي او میم دجمع ترینه روسته راشي نو بیا دقالون لپاره پکي دوه وجهي جائز دي.

۱/ مد منفصل **دقصر** سره او میم دجمع دسکون سره لوستل.

۲/ مد منفصل **دقصر** سره او میم دجمع د صله سره لوستل.

**یادونـه:** په دې صورت کي مد منفصل په خپل حال پاتي کیږی یعنی دقصر سره او تغیر په میم دجمع کي را ځي.

۳/ مد منفصل **دتوسط** سره لوستل او میم دجمع **دسکون** سره.

۴/ مد منفصل **دتوسط** سره لوستل او په میم دجمع کی **صله** کول.

## إجتماع المد المنفصل مع ميم الجمع وبعدها حرف مهموز كما في قوله تعالی

﴿وَفي أَنفُسِكُم أَفَلا تُبصِرونَ﴾ [الذاريات: 21]

| المد المنفصل | ميم الجمع |
|---|---|
| قصر | سـكـون |
| قصر | صله صغری |
| تـوسط | سـكـون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تـوسـط** **صله كبرى**

**يــادونــه:** **صله** كول په ميم دجمع كي سره **دتوسط** كولو نه په مد منفصل كي په دې وجه باندي يوائي إمام قالون عمل كړى نور قراء كرام يي دقالون په شان نه لولي.

## باب هـــاء الــكــنـــايـــة

قال الإمام الشاطبي رحمه الله: **(وسكنْ يؤدِّه مع نولِّه ونصله * نؤته منها فاعتبر صافياً حلا)**

**هاءالكنايه:** داهغه هاء ده چې دواحد مذكر غائب لپاره راځي اوقراء كرام ديته هاء الضمير هم وايي، او په إسم فعل حرف دري واړو كي راځي او په معنى د(هغه) سره، دإسم مثال **(كتابه)** دفعل مثال **(أكلهُ)** دحرف مثال **(إنَّهُ)**

إمام قالون په هاء الكنايه كي صله كوي په( ياي لفظيه) سره په څلورو الفاظو كي

١/ فما بلغت رسالته **{رسالاتـهي}** [المائدة: 67]

٢/ الله أعلم حيث يجعل رسالته **{رسالاتـهي}** [الأنعام: 124]

٣/ من ثلثي الليلِ ونصفهُ **{ونصفهـيْ}** [المزمل: 20]

٤/ ونصفه وثُلُثَهُ **{وثلثِهـيْ}**

إمام قالون ضمه وركوي هاء الكنايه ته او صله كوي په (واو لفظيه) سره په دري كلماتو كي.

- **١/ { إنَّ اللَّه بالِغُ أمرِهِ } {أمرهُوا}** [الطلاق: 3]
- **٢/ وقيلِهِ ياربِ {وقيلَهُوا ياربِ}** [الدخان: 88]
- **٣/ والله متم نورِهِ { نـورَهُـو}** [الصف: 8]

خو ددى قاعدي څخه دايوه كلمه مستثنى ده **{وإن تشكروا يرضهُ لكم}** [الزمر: 7] إمام قالون يى په ضمى دهاء سره لولي بغير دصلي نه.

إمام قالون هاء الكنايه په تاء تأنيث ددوه زورونو سره بدلوي په دى كلمه كي **{كل ذالك كان سَيِّئـُهُ عندربک {سَـيِّـئَــةً}** [الإسراء: 38]

دإمام قالون لپاره په دى كلمه كي دوه وجهي جائزدي **{ومن يأتــهِ مؤمناً }** [طه: ٧٥]

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ۱/ صله کول په هاء کي.
- ۲/ عدم صله.

# أحـــوال هـــاء الـكـنـايــة عند قـالـون

**۱/** هرکله چې دهاى ضمير نه مخکي حرف متحرک وي اوروسته حرف ترينه ساکن وي په اتفاق دقراؤ دلته صله نه کيږی لکه **{لَهُ الْملک ولَهُ الْحمد}** [التغابن: 1] **{ويعلمُهُ الْكتاب}** [ال عمران: 48]

دليل: إمام شاطبي فرمايي**(ولم يصلواها مضمر قبل ساكن)** قراؤ صله نده کړي په هغه هاء کې چي روسته ترينه ساکن حرف راغلي وي.

**۲/** هرکله چې هاء ضمير په منځ ددوه ساکنينو کی راشي په إتفاق دقراؤ دلته صله نه کيږي لکه **{منْهُ الْماء}** [البقرة: 74] **{فيْهِ الْقُرآن}** [البقرة: 185] **{منْهُ اسْمُه}** [ال عمران: 45]

**۳/** هرکله چي هاء ضمير نه مخکي حرف ساکن وي او ورروسته حرف ترينه متحرک راشي بيا هم په اتفاق دقراؤ صله نه کيږی لکه مثال **{فـيْهِ هُـدىً}** [البقرة: 2]

دليل: إمام شاطبي فرمايي: **(وما قبله التسكين لابن كثيرهم،وفيه مهانا حفص معه أخُو وِلا)**

**۴/**هرکله چي هاء ضمير ددوه متحرکو حروفو مينځ کی راشي په اتفاق دقراؤ دلته صله کيږی په هاء کي په واومده سره کله چي وربانديي ضمه وي اوصله کيږي په ياى مده سره کله چي وربانديي کسره وي لکه **{إن ربَهُ كَانَ بِهِ بَصيرا}** [انشقاق: 5] **{إنَّه على رجعِهِ لَقادرٌ}** **[الطارق: 8]**

**دليل:** إمام شاطبي فرمايي **( وماقبله التحريک للكل وصلاً)**

**يــادونــه:** کچيري دهاء ضمير نه روسته همزه قطعي راغلي وي بيابه دقالون لپاره په هاء ضمير کي **قصر** يا **توسط** کيږي لکه دمد منفصل په شان دده دمذهب موافق.

قالون دإمام حفص سره په هاء ضميرکي موافق دي.

**۱/** هرکله چي هاء ضمير مکسور وي بيا صله نه کيږي لکه **{يؤدِّهِ إليک}** [ال عمران: ۷۵]

**{فألقيْهِ فِي اليم}** [القصص: ۷] **{نُؤتهِ منها}** [ال عمران: ۱۴۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**{نُوَلِهِ ، ونُصْلِهِ}** [النساء: ١١٥] **{أرجِهْ واخاهُ}** [ الشعراء: ٣۶] **{وَيَتَّقِهِ}** بكسر القاف[النور: ۵٣] **{ويخلدْ فيهِ مهانا}** [الشعراء: ۶٩]

إمام قالون دحفص سره په دي لاندي كلماتو كي موافق ندي.

**٢/** هركله چي په هاء ضمير ضمه وي بياهم صله نه كيږي لكه **{يرضَهُ لكم}** [ الزمر: ٧] **{ومن يأتِهِ مؤمناً }** [طـه: ٧۵] په دي أيت كي صله اوعدم صله دواړه جائز دي.

**٣/** هركله چي په هاء ضمير كسره وي بياهم صله نه كيږي لكه **{عليهِ اللهِ}** [ الفتح: ١٠] په نوموړي كلمه كي لفظ الجلاله مرقق اداء كيږي دقالون په نزد **{وما انسنيهِ إلا}** [الكهف: ۶٣] په دې كلمه كي هم صله نه كيږى ځكه هاء ضمير مكسور دي.

## باب الهمز المفرد

**الهمز المفرد هي الهمزة وسط الكلمة وكانت العرب تتخلص منها إما بالحذف اوبالإبدال اوالتسهيل او إثباتها.**

همزه مفرده هغي همزي ته وايي هركله چي په منځ دكلمه كي راشي دخلاصون لپاره يي عرب يا حذف كوي، يا پكي إبدال كوي، يا پكي تسهيل، اويايي په خپل حال ثابته پريدي، يعني همزه محتاجه ده تغير اوتبديل ته.

- ❖ همزه مفرده په دوه قسمه ده
  - ١/ همزه ساكنه لكه **{تُؤْتِيْ}** [ابراهيم: 25]
  - ٢/ همزه متحركه لكه **{سَأَلَ}** [المعارج: 1]

## اولاً الهمز الساكن:

هركله چې همزه ساكنه وي نو قالون يي دماقبل حركت موافق په حرف مده سره بدلوي او همزه حذف كوي اودا ابدال فقط په دي كلماتو پورى خاص دى لكه په كلمه د **{يَأْجُوجَ وَمأْجُوْجَ}** كي همزه په الف مده سره بدله كړي **{يَاجُوجَ وماجُوجَ}** [الكهف: 94] اوپه كلمه د**{مُؤْصدة}** كي همزه په واو مده سره بدله كړي لكه **{مـوْصدة}** [الهمزة: 8]

- امام قالون په دي يوه كلمه كي ابدال اوادغام دواړه كړى **{وَرِئْيَا}** اول يي همزه په ياء بدله كړي بيايي دياء ساكني ادغام په ياء متحركه كي كړى **{وَرِيَّا}** [مريم: 74]

## ثـانياً الـهمزالمتحرک:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- إمام قالون تغير او تبديل راولي د ياء په همزي مفردي متحركي سره په دې لاندي كلماتو كي.

لکه کلمه د {الـنَّـبِي} او ددي پشان نورو كلماتو كي لکه {النّـبـيين} ياء په همزي سره{النَّبِـيـئِـين}

{النُّبُوَّة * النُّـبــوءة} {الانْبِيَآء * الْأَنْـبِـئَآءَ} {النَّبِيُّون * النَّـبِـيــئُوْن}

**تـنـبيـه:** فقط ددي قاعدي نه دا دوه كلمات مستثنى دي {لِلنَّبِيِّ إن أراد النَّبِيُّ أَنْ يَّستنكحها} {بيوت النَّبـئ إلا أنْ يُّؤْذن لكم} [سورة الاحزاب: ٥٠، ٥٣]

داكلمات به په حالت دوصل كي دحفص روايت پشان لوستل كيږي او په حالت دوقف كي به په همزي سره لوستل كيږي لکه {لِلنَّبِـئْ * النَّبِـئْ}

- إمام قالون په دې لاندي كلماتو كی تسهيل ددوهمی همزي كوي لکه {أَرَءَيت * أَرَأيْتَ} {أَرَءَيْتكم * أَرَأيْتَكم}{أفرأَيْتُم * أفَرَأيْتُم} {أَفَرَأَيْتَ * أَفَرأيْت}

- امام قالون په دې دري كلماتو كي همزه متحركه حذف كوي او دهمزي حركت ضمه ماقبل حرف ته نقل كوي لکه {الصَّابِـئُوْنَ * الصَّابُون} {الصَّابِئِيْنَ * الصَّابِيْنَ} [البقرة: 62] {يُضَـهِئُوْنَ * يُضَاهُوْن} [التوبة: 30]

- امام قالون په دې دوه كلماتوكي همزه متحركه په الف مده سره بدلوي لکه {مِنْسَأَتَهُ * مِنْسَاتَه} [سبا: 17] {سَأَل * سَالَ} [المعارج: 1]

- {هُزُوَاً} كلمه چي په كوم ځای كي راشي امام قالون دزای مضمومي نه وروسته واو په همزي ددوو فتحوسره بدلوي لکه {هُـزُءَ} اوپه کلمه د {كُفُوَاً} كي وروسته دفاء مضمومي نه واو په همزي ددوو فتحو سره بدلوي لکه {كُفُوْءَ} [الإخلاص: 4]

- امام قالون په کلمه د {الْبَـرِيَّـةَ} [البينة: 6] كي ديای مده ساكني څخه وروسته همزه راوړي او مد متصل پکي کوي.

- امام قالون په کلمه د {بَئِيْسٍ} [الأعراف: 165] كي همزه مفرده په ياء ساكني سره بدلوي.

- {وَزَكَرِيَّا} كلمه چي په كوم ځای كي راشي امام قالون دالف نه وروسته همزه مفتوحه راوړي اومد متصل پکي کوي.

- امام قالون په کلمه د {وَمِيْكَـلَ} كي دالف نه وروسته همزه مكسوره زياتوي او مد متصل پکي كوي.

- دامام قالون رحمه الله لپاره په کلمه د {لِأَهَبَ لَكِ} [مريم: 19] كي دوه وجهي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله وجه: دهمزي بدلول په خالصي ياء مفتوحي سره لكه {لَـيَـهَـبَ لَكِ}
دوهمه وجه: همزه په تحقيق سره ويل لكه دامام حفص په شان {لَأَهَبَ لَكِ}

## الْـهَـمْـزَتَـانِ مِـنْ كَلِـمَـةٍ

قال الإمام الشاطبي رحمه الله: **(وتسهيل الهمزتين بكلمة سما * وبذات الفتح خُلْفٌ لتجَمُلا)**

**هما همزتا القطع المتحركتان فى كلمة واحدة الهمزة الأولى دائماً مفتوحة والثانية تتحرك بالحركات الثلاثة:** دا هغه دوه قطعي متحركى همزي دي چي كله په يوه كلمه كي راشي لومړۍ همزه هميشه مفتوحه وي او دوهمه همزه كله متحركه وى په حركت دفتحي او كله په حركت دضمي اوكله په حركت دكسري سره لكه {ءَأَنـذرتهم} [البقرة: 6] {ءَأُنزل} [ص: 8]

{أَئِـنكم} [الأنعام:19] حكم يې دادى په اوله همزه كي به تحقيق كيږي اوپه دوهمه همزه كي تسهيل كيږي سره د دإدخال دألف نه په مينځ ددواړو كي په مقدار ددوه حركتونو.

**الإدخال: هو إثبات الألف بين الهمزتين وتمد حركتين)**

الف داخلول په مينځ ددوه همزو كي او ددوه حركتونو په أندازه مد پكي كول.

**التسهيل: النطق بالهمزة بينها وبين الحرف المجانس لحركتها فينطق بالمفتوحة بينها وبين الألف وبالمكسورة بينها وبين الياء وبالمضمومة بينها وبين الواو)**

تلفظ كول دى په همزه باندي په مابين دهغه حرف چى دحركت د جنس څخه دى، لكه تلفظ كول دي په فتحي په منځ دهمزي او ألف كي او تلفظ كول دي په كسري سره په منځ دكسري او ياء كي او په ضمى سره په مينځ دضمي او واو كي لكه
{ ءَا۔ نذرتهم * ءَا۔ نزل * ءا۔ نكم}

## إستثناءات الهمزتين من كلمة

ددي قاعدي نه بعض كلمات مستثنى دي.
١/ تسهيل كول بغير د إدخال نه په لاندي كلماتو كي لكه {أَئِمـة * ءَيمةٌ} [السجدة: ٢٤]
ءَأَ لهتنا * ء۔ لهتـنـا } [ الزخرف: ٥٨ ]
{ءَءامنتم * ءَا۔ منتم} [ طـه، اعراف، الشعراء]
٢/ إمام قالون په {أَءُشـهـدوا} [الزخرف: ١٩] كلمه كي همزه استفهاميه راوړي مخكي دهمزي قطعى نه او په همزه قطعي كي إدخال او عدم إدخال جائزګڼي لكه {ءَأُشهدوا * أَوُشهدوا}

**الهمزتان من كلمتين:** دوه همزي په دوه كلمو كى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هما همزتا قطع متتابعتان أولهما فى أخر الكلمة الأولى وثانيهما فى أول الكلمة الثاني)**

داهغه دوه قطعي همزي دې چي لومړۍ همزه داولي کلمي په اخر کي وي او دوهمه همزه د ددوهمي کلمي په اول سر کي راغلي وي.

## إجتماع الهمزتين في كلمتين

جمع کيدل ددوه همزو په دوه کلمو کي او دهغي حکم.

هرکله چي دوه همزي په دوه کلمو کي جمع شي چي داسي إجتماع په ټول قرآن کريم کي په اته صورتونو کي راځي.

**الهمزتان المتفقتان في الحركة (مفتوحتان)** دوه همزي چې حرکتونه يې يو شان وی يعني دواړه مفتوحي وي.

**۱/ صورت:(ءَ أَ)** هرکله چي دوه همزي په دوه کلمو کي راشي او دواړه مفتوحي وي، داسي اجتماع په ټول قرآن کريم کي په شپاړس کلماتو کي نهه ويشت ځايه په دې سورتونوکي راغلي ده، النساء، المائدة، الأعراف، يونس، هود، الحجر، النمل، الحج، فاطر، المؤمنون، الفرقان، الأحزاب، غافر،القمر،الحديد، محمد، المنافقون، عبس، حکم يې دقالون په نزد دادي اوله همزه به حذف کيږی اودوهمه همزه کي به تحقيق کيږی اودامذهب دجمهورو قراء کرامو دی، لکه **{ جـاءَ أمـرنا * جَآ أمرنا}** [هود: 82] اوبعضي قراء کرام اوله همزه په خپل حال ثابته پريدي او دوهمه همزه حذف کوي لکه **{جَاءَ مْرُنا}**

کچيری لومړۍ همزه حذف شي بيا دلته مد کيږي دمنفصل په مقدار، قصراوتوسط دواړه پکي جائزدې خوقصر پکي بهتر دی لکه **{جـا أمرنا}** او کچيري دوهمه همزه حذف شي اولومړۍ باقي پاتي وی نو بيا پکي مد متصل کيږي بيا فقط توسط پکي جائزدی لکه **{جـآءَ مـرنا}**

## الهمزتان المتفقتان في الحركة (مكسورتان)

**۲/ صورت:(ءِ إِ)** هرکله چي دوه همزي په دوه کلمو کي راشي او دواړه مکسوري وي، اوداسي اجتماع په ټول قرآن کريم کي په څوارلس کلماتو کي په دې سورتونو کي راغلي ده، البقرة، النساء، هود، يوسف، الإسراء، النور، الشعراء، الأحزاب، السجدة، سباء، الزخرف، حکم يې دقالون په نزد دادي په لومړۍ همزه کي به تسهيل کالياء کيږي او په دوهمه همزه کي به تحقيق کيږي لکه **{مـن السماءِ إن * من السمايْ إنْ}** [ ال عمران: ] **{هؤلاءِ إنْ * هـؤلايْ إن}** [البقرة: 31]

## الهمزتان المتفقتان في الحركة(مضمومتان)

**۳/ صورت:(ءُ أُ)** هرکله چي دوه همزي په دوه کلمو کي راشي او دواړه مضمومي وي، اودا اجتماع په ټول قرآن مجيد کي همدا يوځای راغلي ده، حکم يې دقالون په نزد دادي په لومړۍ همزه کي به تسهيل کالواو کيږی او په دوهمه همزه کي به تحقيق کيږي اوپه دې مد کي ورله دوه وجهي جائز دي.۱/ قصر ۲/ توسط، قصر په دې وجه چي همزه ضعيفه کيږي،او توسط په دې وجه چي داصل په اعتبار سره دا مد متصل دی لکه **{ أَوليـآءُ أُلـئـک * أوليـآوُ أُولـئـک}** [الأحقاف: 32]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددى قاعدي نه بعضي كلمات مستثنى دي.**

**{بالسُّوءِ إلا}** [سورة يو سف: ۵۳] په نوموړي کلمه کې دقالون لپاره دري وجهي جائز دي.

- **۱/** په لومړۍ همزه کې تسهيل سره دتوسط نه لکه **{بالسُّو إلا ما}**
- **۲/** په لومړۍ همزه کې تسهيل، سره دقصر نه لکه **{بالسُّوِّ إلَّا}**
- **۳/** دلومړۍ همزي إبدال په واو سره بيا دواو إدغام په لومړي واو کې کول لکه **{بالسُّوِّ إلّا} {للنّبـِيءِ إن أراد * بيوت النَّبـِئِ إلَّا}** [الأحزاب:۵۰]

په دې دوه کلماتو کې قالون لومړۍ همزه په حالت دوصل کې په ياء مکسورې سره بدلوې اوبيايې إدغام په ياء ساکنه کې کوي دحفص روايت په شان ددی لپاره چې ياء مشدده ترينه جوړه شي او په حالت دوقف کې همزه ساکنه په خپل حال ثابته پريدي لکه **{ للنبـِئْ إن * أراد النبـِئْ إلا}**

## الـهمـزتـان المختلفتان في الحركة من كلمتين:

دوه همزي په دوه کلمو کې چې حرکتونه يې مختلف وي.

**۴/ صورت:(ءَ إ)** هر کله چې دوه همزى په دوه کلمو کې راشي او اوله همزه مفتوحه وي او دوهمه همزه مکسوره وي، اودا اجتماع په ټول قرآن مجيد کې په نولس کلماتو کې راغلي ده، په دې سورتونو کې، البقرة، المائدة، الأنعام، التوبة، يونس، يوسف، الكهف، مريم، الأنبياء، الشعراء، النمل، روم، السجدة، الججرات، حکم يې دادي اوله همزه کې به تحقيق کيږي او په دوهمه کې تسهيل کالياء لکه **{ تفيءَ إلى * تـفـيءَ يـلَـى}** [الجرات:۹] **{ شهداءَ إذْ * شهداءَ يذ}** [الأنعام: ۱۴۴]

**۵/ صورت:(ءَ أُ)** هرکله چې دوه همزي په دوه کلمو کې راشي او اوله همزه مفتوحه وي او دوهمه همزه مضمومه وي، اودا اجتماع په ټول قرآن کريم کی يوځای راغلي ده، حکم يې دادي چې په لومړۍ همزه کې به تحقيق اوپه دوهمه همزه کې به تسهيل کالواو کيږي لکه **{جاءَ أُمةً رَّسولها * جآءَ وُمّةً رَّسولها}** [المؤمنون: ۴۴]

**۶/ صورت:(ءُ أَ)** هرکله چی دوه همزي په دوه کلمو کې راشي او اوله همزه مضمومه وي او دوهمه همزه مفتوحه وي، اودا اجتماع په ټول قرآن کريم کې ديارلس ځايه راغلي ده په دې سورتونو کې، البقرة، التوبة، هود، يوسف، النمل، ابراهيم، الأحزاب، فصلت، الممتحنة، حکم يی دقالون په نزد دادي اوله همزه کی به تحقيق کيږي او په دوهمه همزه کې به إبدال کالواوپه فتحي سره کيږي لکه **{السُّـفـهآءُ ألا إنـهم * الـسـفـهـاءُ وَلا}** [البقرة: ۱۳]

**{ سـوءُ أعمالـهم * سُـوءُ وَعْمالهم}** [التوبة: ۲۷] **{أنْ لّو نشاءُ أصبنـهم * أنْ لَّو نشاءُ وَصبنهم}** [الأعراف: ۱۰۰]

**۷/ صورت:(ءِ أَ)** هرکله چي دوه همزي په دوه کلمو کې راشي او اوله همزه مکسوره وي او دوهمه همزه مفتوحه وي،اودا اجتماع په ټول قرآن کريم کې شپاړس ځايه راغلي ده په دې سورتونو کې، البقرة، النساء، الأعراف، الأنفال، يوسف، الأنبياء، الفرقان، الشعراء، الأحزاب، الملک، حکم يې دادي په اوله همزه کې به تحقيق او په دوهمه همزه کې به إبدال کالياء کيږي په ياء مفتوحي سره لکه **{من السمآءِ أيـةً * من السماءِ ياية}** [الشعراء: ۴]

**{ هؤلاءِ أهـدى * هؤلاءِ يَهْدى}** [النساء: ۵۱] **{من الماءِ أو مِمَّا * من الماءِ يَوْمما}** [الأعراف: ۵۰]

**۸/ صورت:(ءُ إِ)** هرکله چی دوه همزي په دوه کلمو کې راشي او اوله همزه مضمومه وي او دوهمه همزه مکسوره وي،اودا اجتماع په ټول قرآن مجيد کې اته وېشت ځايه راغلي ده په دې سورتونو کې، البقرة، آلعمران، الأنعام، الأعراف،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يونس، هود، يوسف، مريم، الحج، النور، النمل، الأحزاب، فاطر، الشورى، الممتحنة، التحريم، حكم يی دادي په اوله همزه کی به تحقيق او په دوهمه همزه کي به تسهيل کالياء په ياي مکسوري سره او إبدال کالواو په واو مکسوري سره کيږي لکه **{منْ يَّشاءُ إلى * منْ يَّشاءُ يِلَى} {منْ يَّشاءُ إلى * منْ يَّشاءُ وِلَى}** [البقرة: ١٤٢]

**{لمايشاءُ يِنَّهْ * لمايشاءُ وِنَّه}** [يوسف: ١٠٠]

**يادونه:** هر چی ددي اتم صورت عکس دی يعني چی اوله همزه مکسوره وي او دوهمه همزه مضمومه ددي مثال په قرآن مجيد کي نشته دی.

## الإستفهام المكرر في القرآن الكريم

**وهو كل موضع تكرر فيه لفظ الإستفهام على التعاقب في آية واحدة او كلام واحد وتجتمع همزة الإستفهام بهمزة قطع من ذوات الكسر)**

هر هغه ځای چي استفهام لفظ پکي مکرر راشي په يو ايت کي ياپه يو کلام کي او همزه داستفهام دهمزي قطعي مکسوري سره يو ځای وي.

په قرآن مجيد کي يوولس ځايونو کي همزه استفهاميه په نهه سورتونو کي راغلي ده چي په نهه ځايونو کي إمام قالون لومړۍ همزه په اول جز کی ثابته پريدي اودوهمه همزه په دوهم جز کي حذف کوي چي مثالونه يی په لاندي ډول دي.

- ١/ **{ أإذا كنا تراباً وَّعظاما إنّا لمبعوثون}** [المؤمنون: ٨٢]
- حکم يي دادي په اوله همزه کي استفهام کوي لکه **{ءَء، أَيذا}** او دوهمه همزه کي اخبار لکه **{ءَ، إنّـا}**
- ٢/ **{ أإذا كنا ترابا إنا لفي خلق جديد}** [ الرعد: ٥]
- ٣/ **{ أإذا كنا عظاما ورفاتا إنّـا لمبعوثون خلقا}** [ الاسراء: ٩٨]
- ٤/ **{ أإذا ضللنا في الأرض إنّـــا لفي خلق جديد}** [ السجدة: ١٠]
- ٥/ **{ أإذا متنا وكنا تراباً وَّعظاما إنَّـــا }** [ الصافات: ٥٣]
- ٦/ **{ ءَإذا متنا وكنا تراباً وَّعظاما إنَّـــا لمبعوثون}** [ الواقعة: ٤٧]
- ٧/ **{ ءَإنَّـــا لمردودون في الحافرة * إذا كنـا }** [النازعات: ١١]
- ٨/ **{ ءَإذا كنا عظاماً وَّرفاتا إنَّـــا}** [الاسراء: ٤٩]
- ٩/ **{ أإذا متنا وكنا تراباً وَّعظاما إنَّـــا }** [الصافات: ١٦]

البته آمام قالون په دوه ځايونو کي عکس کړي يعني اوله همزه داخباراودوهمه همزه دإستفهام سره لوستلي لکه **{ أَئِـذا }** إستفهام سره **{ إنَّـــا }** داخبارسره.

**{ إذَا }** داخبار سره **{ ءَإنَّـــا }** دإستفهام سره.

**{ أَيـذا متنا وكنا تراباً وَّعظاماً إنّـا لمبعوثون}** [المؤمنون: ٨٢]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نوموړي ايت کې إمام قالون تسهيل مع الإدخال کوي.

مثال دهغه دوه ځايونو چې قالون اوله همزه په لومړی کلمه کې په إخبار او دوهمه همزه په دوهمه کلمه کې په إستفهام سره لولي.

- ❖ ۱/ { وقال الذين كفرو إِذا كنا تراباً وَّءَاباؤنا أَاينا لمخرجون} [سورة النمل: ۶۷]
- ❖ ۲/ { ولوطاً إذ قال لقومه إِنــكـم لتأتون الفاحشة ماسبقكم بها من أحد من العالمين* أَايـنَّـكم لتأتون الرجال وتقطعون السبيل وتأتون فى ناديكم المنكر} [ العنكبوت:۲۹]

## بـــاب الـنقـل

**النقل في اللغة هو تحويل وتغير شيئٍ عن مكانه)** بدلول ديو شي دېخپل ځای نه.

**وفي الإصطلاح هو نقل حركة همز القطع إلى الساكن قبلها مع حذف الهمزة للتخفيف)** دقطعي همزي حرکت مخکي ساکن حرف ته ورکول او همزه حذف کول داسانی لپاره، او نقل حرکت دقالون په روايت کې په ټول قرآن مجيد کې په دري کلماتو کې خلور ځايه راغلی دی.

اول: کلمه د{ الْأُوْلَى } [سورة النجم: ۵۰] إمام قالون ادغام دتنوين دفتحو د{عَادًا} په لومړي لام کې کوي او حرکت دهمزي لام ته نقل کوي او همزه دواو په سکون سره لولي په حالت دوصل کې لکه {عَـادًالّـُوْلَى} خو کله چې دنوموړي کلمي څخه ابتداء کوې بيا ورله يکي درى وجهي جائز دي.

۱/ دلام تعريف څخه وروسته به همزه مضمومه راوړو او واو به ساکن کړو لکه دامام حفص روايت په شان لکه { اْلأوْلَى}

۲/ دهمزي مفتوحي څخه به وروسته لام مضموم راوړو او د واو همزه به ساکنه کړو لکه {أَلُـؤْلَى}

۳/ ابتداء به په ضمي دلام سره وکړو او همزه وصلي به داول نه حذف کړو او د واو همزه به ساکنه کړو لکه {لُـؤْلَـى}

**دوهم:** کلمه د{رِدْءاً} [سورة القصص: ۳۴] په دی کلمه کې قالون دهمزي تنوين ماقبل حرف دال ته نقل کوي دوصل په حالت کې او همزه حذف کوي لکه {رِدَاً يُصدِّقُنِي} او په حالت دوقف کې تنوين دفتحو بدلوي په الف سره لکه { رِدَا }

دريم: کلمه د{ءَالــئَـن} [يونس: ۹۱] امام قالون په دې کلمه کې دوهمه همزه حذف کوي او حرکت ورله ماقبل لام ته نقل کوي لکه {ءَاَلَــنَ} دقالون لپاره په دې همزه وصلي کې دري وجهى جائز دي.

- ❖ ۱/ همزه وصلي بدلول په الف باندي سره دمد نه لکه {ءَالَـــن }
- ❖ ۲/ همزه وصلي بدلول په الف باندي سره دقصر نه لکه {ءَلان * ألـــئن}
- ❖ ۳/ تسهيل دهمزى وصلى کول په منځ دهمزي او الف کې لکه {ءأَلَــن}

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (حـكم إلتقاء الساكنين)( تحریک أول الساكنين بالضم للزوم ضم ثالث الفعل)

هرکله چې دوه ساکن حروف یوځای په دوه کلمو کي راشي لومړي ساکن ته به حرکت د ضمی ورکوو څکه چې دفعل دریم حرف مضموم دي په ضمي أصلي سره.

- **التحریک بالضم:**
- **١/ قـاعـدة:** هرکله چي دوه ساکن حروف په دوه کلمو کي راشي إمام قالون لومړي ساکن حرف ته حرکت دضمي ورکوي په دی شرط چی ددوهمي کلمي د فعل ابتداء په همزي وصلي سره شوي وي او ددغه فعل دریم حرف مضموم وي په ضمي اصلي سره، لکه مثال:

**١/ ولـقدُ استُهـزِئَ}** [الأنبياء: ٤١]

**٢/ وقالتْ اخـرُج}** [یوسف: ٣١]

**٣/ قُلِ ادْعـوا * قلُ ادعوا}** [الإسراء: ١١٠]

**٤/ اوِ انْـقُـص * اوُنقُص}** [المزمل: ٣]

**٥/ أنِ اعْبدوا * أنُ اعْبدوا}** [النحل: ٣٦]

**٦/ محـظورا انظُر * محظوراً نُ انظر}** [الإسراء: ٢١]

**٧/ خبیثةٍ اجتثت * خبیثةٍ نُ اجتثت}** [ابراهیم: ٢٦]

**٨/ أنِ اقتلوا * أنُ اقتلوا}** [النساء: ٦٦]

**٩/ برحمةٍ ادخلوا *برحمةِ نُ ادخلوا}** [الأعراف: ٤٩]

**تـنـبـيـه:** دنوموړي قاعدي څخه یو څو کلمات مستثنی دي په لاندي کلماتو کي إمام قالون کله چی إبتداء ددوهمی کلمي نه کوي بیا همزه وصلي ته ضمه نه ورکوي لکه **{بغلمٍ اسمه}** [مریم: ٧] **{قلِ الروح}** [الإسراء: ٨٥] **{ انِ امشُوا}** [ص: ٧]

- **الـتـحـريـک بالـکسر:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **٢/ قاعـدة:** هركله چي دوه ساكن حروف په يوځاى راشي او دلومړي ساكن نه روسته فعل دريم حرف مضموم وي به ضمي عارضي سره إمام قالون لومړي ساكن ته حركت دكسري وركوي لكه **{ أنِ امشُـو}** دلته اصلي حالت دفعل **{أنِ امـشِـيُـوا}** دى ضمه دياء ماقبل حرف ته نقل، او ياء حذف شوه.

## ➢ الـتـحـريک بالـكـسر:

- **٣/ قــاعـدة:** هركله چى دوه ساكن حروف په يوځاي راشي او دلومړى ساكن نه روسته دفعل دريم حرف مفتوح يا مكسور وي إمام قالون لومړي ساكن ته كسره وركوي لكه **{ انِ اضْـرِب }** [الأعراف: ١٦٠]
**{ لَـقَـدِ استكبروا}** [الفرقان: ٢١]

## بـاب الفتح والإمـالـة ومابين اللفظين

باب دى به بيان دفتحى او إمالي كى او هغه چي دفتحى او إمالي په منځ كى راځي.

- **الـفتح: هو الإتيان بصوت الحرف مفتوحاً)** تلفظ كول دي دحرف په اواز باندي په خلاصه خوله باندي لكه مثال: **(أَكَلَ، فَرَضَ، ضَرَبَ)**

- **الإمـــالـة: في اللغة أمال الشيئ يميله ميلا أيْ صيَّره مائلاً)** إماله په لغت كي ديوشي مايله كولو ته وايي **وفي الإصطلاح هى النطق بالألف قريبة من الياء والفتحة قريبة من الكسر من غير قلب خالص)** تلفظ كول دي په الف باندي ياء طرف ته مائله، اود زور نږدى كول زير طرف ته په غير دخالص بدلولو نه يعني دالف ميلان ياء طرف ته او دزور ميلان زير طرف ته ديته اماله وايي.

## تنقسم الإمالة إلى قسمين

- **اولاً / الإمالة الكبرى وهي الإقتراب من الكسرة أكثر من الفتحة ومن الياء أكثر من الأف، وتسمى الإضجاع والمحض)** دزور زيات ميلان زير طرف ته او دالف زيات ميلان ياء طرف ته ديته إماله كبرى،اضجاع، او محضه هم وايي. اودإمام قالون لپاره په ټول قرآن كريم كي يوځاى إماله كبرى راغلي ده په كلمه د **{ هــار}** كي په حالت دوصل اوقف دواړو كي.[ التوبة:١٠٩]

- **ثـانـيـاً / الإمـالـة الصغرى وهي مرتبة متوسطة بين الفتحة والكسرة وبين الألف والياء، اوهي التوسط بين الفتح والإمالة الكبرى، وتسمى التقليل، وبين بين)** دايوه منځنى مرتبه ده په مابين د زور او زير كي، او په مابين د الف اوياء كي، اويا دايو منځني حالت دي په مابين دفتحي او إماله كبرى كي.او ديته إماله صغرى، تقليل، او بَيْنَ بَيْن وايي. دإمام قالون په روايت كي فقط په يوه كلمه كي اماله صغرى ده او دوه وجي ورله پكي جائز دي. ١/ فتحه، ٢/ اماله، مگر فتحه ورله مقدم ده **{الـتـورـة}** [ال عمران: ٣]

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ **التقليل: هو مابين اللفظين ويسمى بالإمالة الصغرى)** ددوه لفظونو منځ کي تلفظ کول چي نه پوره زور وي او نه پوره زير وي ديته اماله صغرى وايي.

## باب الإظهار والإدغام

➢ **المتماثلان هما اللذان اتفقا مخرجاً وصفةً إسماً ورسماً نحو النون مع النون، والميم مع الميم، والفاء مع الفاء، والتاء مع التاء، والذال مع الذال، وهَلُمَّ جَرَّاً)**

➢ **إدغام مثلين:** هرکله چې دوه حروف هم مثله چې په مخرج او صفت، شکل اوصورت کي يوشان وي لکه نون دنون سره يا فاء دفاء سره ،ميم دميم سره اواول يي ساكن او دوهم متحرک وي دقالون په نزد حکم يى دإدغام دى دإمام حفص په شان لکه **{ونريد أنْ نَّمن}** [القصص: 5] **{ إليكمْ مُّرسلون}** [يس: 14] **{فلا يسرفْ فِّي القتل}** [الإسراء: 33] **{فما ربحتْ تِّجارتهم}** [البقرة: 14] **{اذْ ذَّهب}** [الأنبياء: 87] اوهمداسي نور.

➢ **المتقاربان هما اللذان تقاربا مخرجاً وصفةً نحو النون مع اللام، او مخرجاً دون الصفة نحو الدال مع السين، او صفة دون المخرج نحو الذال مع الجيم)**

**ادغام متقاربين:** هرکله چې دوه حروف چې مخرج اوصفت کې يوبل ته نژدی وي لکه نـــون او لام، او لومړی حرف ساکن وي او دوهم متحرک وې حکم يې د ادغام دی لکه **{منْ لَّدُنْـهُ}** [النساء: 40] يا په مخرج کي نژدی وی او صفت کي ديوبل نه لري وي لکه دال اوسين، حکم يې داظهار دي لکه **{قدْ سَمِعَ اللهُ}** [المجادلة: 1] يا په صفت کي نژدی وی په مخرج کی ديو بل نه لري وې لکه ذال اوجيم، حکم يې داظهار دي لکه **{وإذْ جَعَلْنَا}** [البقرة: 125]

➢ إدغام **دلام** په را کي لکه **{ وقلْ رَّبِّ زدني علماً}** [طه: 114]
➢ إدغام دقاف په کاف کي لکه **{ الَمْ نخلُقْـكُّمْ }** [المرسلات: 20]
➢ إدغام د ذال په تاء کي لکه **{أخذْتُّمْ} {اتَّخَذْتُّ}**

❖ **يـادونـه:** په قرآن مجيد کي داسي مثال نشته چي إدغام د طاء په حرف دال کي شوي وي،او ادغام د دال په حرف طاء کی.

خوإمام قالون إدغام د ذال په حرف تاء کي کوي او ددی پشان نورو کلماتو کی لکه **{اتَّخـذْتُّ * اتَّخـتُّ } {اتَّخـذْتُّم * اتَّخـتُّم}**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **المتجانسان هما اللذان اتفقا مخرجا واختلفا صفةً نحو الذال مع الظاء، واتفقا صفة واختلفا مخرجاً نحو التاء مع الكاف)**

**إدغام متجانسين:** هركله چې دوه حروف چې مخرج كي يو وي او صفت كي جدا وي لكه **ذال دظاء** سره لكه **{إذْ ظَّلموا * إذْ ظَّلَمتم}** ياپه صفت كي سره يو وي او په مخرج كي جدا وي لكه **تاء دكاف** سره، خو إمام قالون إدغام د **باء په ميم** كي، او **دثاء** په **ذال** كي كوي سره دخلف نه يعنى إظهار او إدغام دواړه پكي جائز گڼي لكه **{اركبْ مَعَنَا * اركمَّعَنا }** [هود:42] **{او تتركه يلهثْ ذَالك * يلهذَّالك }** [الأعراف: 176] او په سورة البقرة كي فقط يوځاي كي إدغام د **باء** په **ميم** كي كوي په يو قول سره لكه **{يعذب منْ يَّشاء * يعذِّميشاء}** [البقرة: 284]

- إدغام **دتاء** په **دال** كي لكه **{ أجيبتْ دَّعوتكما }** [يونس: 89] **{ اَثقلتْ دَّعَوالله}** [الأعراف: 189]
- إدغام د **دال** په **تاء** كي لكه **{ قدْ تَّبيَّنَ}** [ال عمران: 256] **{ عقدْتُّمْ}** [المائدة: 89]
- إدغام **دثاء** په **ذال** كي لكه **{يلهثْ ذَّالك}** [الأعراف: 176]
- إدغام د **ذال** په **ظاء** كي **{إذْ ظَّلموا} { اذْ ظَّلمتم}** [الزخرف: 39]
- إدغام **دطاء** په **تاء** كي **{ فأمنتْ طَّائفة}** [الجمعة: 62]
- إدغام **دطاء** په **تاء** كي **{ لئن بسطْتَّ، فرطْتُّمْ، فرطْتُّ، أحطْتُّ}**

**المتباعدان هما الحرفان المتباعدان في المخرج والصفات كـ اللام والهمزة)** هغه دوه حروف چي په مخرج او صفاتو كي ديو بل نه جدا وي لكه لام او همزه، حكم يي داظهار دى مثال يي: **{قُل أعوذ}** [الفلق: 1]

## ياءات الإضافة

### هى الياء الزائدة الدالة على المتكلم وتتصل بالإسم والفعل والحرف،وحكمها تدور بين الفتح والإسكان)

ياء دإضافت هغه زياتي ياء ته وايي چى دلالت كوي په مفرد متكلم باندي اوپه إسم، فعل، حرف دري واړو كي راځي كله مفتوحه وي او كله ساكنه وي.

## علامة ياء الإضافة، صحة إحلال الهاء والكاف محلها

نښه او علامه دياء دإضافت دصحت داده چي د ياء داضافت په ځاى **هاء** ، او **كاف** راځي لكه مثال:
**{فطرني * فطره * فطرك} { ضيفي * ضيفه * ضيفك} { إنّي * إنَّهُ * إنَّك }**

**قاعدة:** هركله چي ياء داضافت نه روسته همزه وصلي راشي اولام تعريف ورسره نه وي إمام قالون ياء دإضافت په فتحي سره لولي لكه
**١/ لنفسيَ اذهب}** [طه: 41] **٢/ ولاتنيا في ذكريَ اذهبا}** [طه: 42] **٣/ إنَّ قوميَ اتَّخذوا}** [الفرقان: 30] **٤/ من بعديَ اسمه}** [الصف: 6] **{عهديَ الظَّالمين}** [ البقرة: ١٢٤]

**قاعدة:** هركله چى ياء دإضافت مخكي دهمزي قطعي نه راشي برابره خبره ده كه همزه مفتوحه وي يا مضمومه يا مكسوره وي إمام قالون ياء داضافت فتحى سره لولي لكه **{ إنّيَ أعلمُ }** [البقرة: 30] **{ إنّيَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**أُعيذهـا}** [ال عمران: 36] **{منْ أنصـاريَ إلـى الله}** [الجمعة: 14] **{ إنيَ أمنتُ بربكم}** [يس: 25] **{إنيَ أُرِيْدُ أن تبوء}** [المائدة: 29] **{ إنيَ أعيذها بک}** [ال عمران: 36] **{نفسيَ إنَّ النفس}** [يوسف: 53] **{ وحزنيَ إلى الله}** [يوسف: 86]

## إسـتـثـنـاءات يـاء الإضــافــة اللتي قرأها بالإسكان

هركله چي ياء داضافت مخكي دهمزي قطعي مفتوحي څخه راشي إمام قالون يې په ټول قرآنكريم كي په فتحي سره لولي مګر په نـهه ځايونو كي ياء دإضافت په **سـكـون** سره لولي، لکه

- ١/ **فاذكرونيْ أَذكركم }** [ البقرة: 152]
- ٢/ **أرنـيْ أَنـظر إليک}** [الأعراف: 143]
- ٣/ **ولاتفتنـيْ أَلا في }** [التوبة: 49]
- ٤/ **وترحمنيْ أَكن }** [هـود: 47]
- ٥/ **فاتبعنــيْ أَهـدک }** [ مريم: 43]
- ٦/ **ذرونــيْ أَقتـل }** [غـافر: 26]
- ٧/ **ادعونــيْ أَستجب لكم }** [ غافر: 60]
- ٨/ **رب اوزعنــيْ أَنْ }** [الأحقاف: 15]
- ٩/ **رَبِّ أَوْزِعني أَن أشكر }** [النمل: 19]

## قبل همز القطع مضمومة

❖ **يـادونـه:** په ټول قرآن مجيد كي په دوه ځايونو كي ياء دإضافت نه روسته همزه قطعي مضمومه راغلي، دلته به هم ياء دإضافت ساكنه لوستل كيږي لکه **{ بعهـديْ أُوْفِ }** [البقرة: 40] **{ءاتـونـيْ أُفـرغ }** [الكهف: 96]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قبل همز القطع مكسورة

- هركله چې ياء دإضافت نه روسته همزه قطعي مكسوره راشي، قالون ياء دإضافت ساكنه لولي په دې لسو كلماتو كي.
- ١/ قال آنظرنــيْ إلى } [ الأعراف: 14]
- ٢/ يدعوننــيْ إليه } [يوسف: 33]
- ٣/ وبين إخوتــيْ إنَّ } [يوسف: 100]
- ٤/ فأنظرنــيْ إلى } [الحجر: 36]
- ٥/ يصدقنــيْ إنِّــيْ } [ القصص: 34]
- ٦/ وتدعوننــيْ إلى النار} [غافر: 41]
- ٧/ تدعونني إليه } [غافر: 43]
- ٨/ أخرتنــيْ إلى } [المنافقون: 10]
- ٩/ ذُرِّيَّتِــيْ إنِّيْ } [الأحقاف: 15]
- ١٠/ إلى ربِّــيْ إنَّ لى } [فصلت: 50]

په كلمه د{ولئنْ رُّجِعْتُ إلَى رَبِّيْ إنَّ لِى} كي خلف دى يعني په فتحي اوسكون دياء دواړو سره يې لوستل جائز دي.

إمام قالون رحمه الله په دې لاندي كلماتو كي ياء داضافت په حالت دوصل او وقف دواړو كي په سكون دياء سره لولي لكه

١/ { ومحيايْ } [ الأنعام: 162]
٢/ { وماكان لِيْ عليكم } [ ابراهيم: 22]
٣/ { ولِيْ فيها مأرب } [ طه: 18]
٤/ { مالِيْ لا أرى الهدهد } [ النمل: 20]
٥/ { ولِيْ نعجةٌ } [ص: 23]
٦/ { ما كان لِيْ منْ علم } [ ص: 69]
٧/ { بيتِيْ مؤمناً } [ نوح: 28]

امام قالون رحمه الله په نهه ځايونو كي د{ مَعِيْ } كلمه چې روسته ترينه همزه قطعي نوي راغلي په سكون دياء سره لولي.

١/ { فأرسل معِيْ بنِيْ إسرآئيل } [ الأعراف: 105]
٢/ { ولن تقاتلوا معِيْ عدواً } [ التوبة: 83]
٣/ { معِيْ صبرا } [ الكهف: 67]
٤/ {معِيْ صبرا } [ الكهف: 72]
٥/ { معِيْ صبرا } [ الكهف: 75]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶/ { هذا ذكر من معِيْ وذكر من قبلي } [ الأنبياء: 24]
۷/ { إنَّ معِيْ ربي سيهدين } [ الشعراء: 62]
۸/ { ونجنيْ ومن معِيْ من المؤمنين } [ الشعراء: 118]
۹/ { فأرسله معِيْ ردءًا } [ القصص: 34]

**الياءات الزوائد: وهي ياءات زائده في التلاوة وغير موجودة في الرسم العثماني وتأتي على الإسم والفعل فقط)**
ياي زائده هغه ياء ته وايي چي په تلاوت كي ثابته وي يعني لوستل كيږي اوپه رسم الخط كي نوي ليكل شوي دكلمي په اخركي په إسم اوفعل كي راځي فقط لكه إمام شاطبي فرمايي:
**(ودونک ياءات تسمی زوائدا * لأن كن عن خط المصاحف معزلا)**

## الفرق بين الياءات الزوائد وياءات الإضافة

فرق په مابين دياي زائده او ياي إضافت كي.

- ۱/ ياي زائده په اسماؤ اوافعالو كي راځي او هرچي ياء دإضافت دی هغه په أسماؤ، أفعالو او حروفو دري واړو كي راځي.
- ۲/ ياءات زائده په رسم الخط كي حذف وي يعني كلمی اخر كي نوي، لكه {نـكيـر} [الملک:18] { وعيد } [ق: 14] او هر چي ياءات دإضافت دي هغه په رسم الخط كي موجود وي يعني دكلمي اخر كي وي لكه {المهتدي} [الأعراف: 178]

## إمام قالون په 19 ځايونو كي ياى زائده ثابته لولي.

- ۱/ دعوة الداع يْ}(اصلية) [ القمر: 6]
- ۲/ الـداع يْ} ( اصلية) [القمر: 18]
- ۳/ ومن اتبعن يْ} [العمران: 20]
- ۴/ يوم يأت يْ } (اصليه) [هود: 105]
- ۵/ لئن أخرتن يْ } [الاسراء: 62]
- ۶/ المهتد يْ } (اصليه) [الاسراء: 97]
- ۷/ المهتد يْ} (اصلية) [الكهف: 17]

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ٨/ يهدين يْ } [الكهف: 24]
- ٩/ يؤتين يْ } [الكهف: 64]
- ١٠/ نبـغ يْ } ( اصليه ) [الكهف: 40]
- ١١/ تعلمن يْ) [الكهف: 66]
- ١٢/ تتبعن يْ } [طـه: 93]
- ١٣/ اتمدونن يْ } [النمل: 36]
- ١٤/ الجوار يْ } ( اصليه) [الشورى: 30]
- ١٥/ المنـاد يْ } ( اصليه ) [قاف: 41]
- ١٦/ يسر يْ } ( اصليه) [الفجر: 4]
- ١٧/ أكرمن يْ } [الفجر: 15]
- ١٨/ أهـانن يْ } [الفجر: 16]
- ١٩/ إن ترن يْ أنـا } [الكهف: 39]

اختلاف په ياءات زائده كي په مابين دحذف او إثبات كي يعني ياى زائده به كله حذف كيږي او كله به ثابته وي. لكه څنګه چي اختلاف شته په ياءات دإضافت كي په مابين دفتحي اوسكون كي يعني ياء دإضافت باندي به كله فتحه راځي او كله سكون.

## الياءات الزوائد تكون أصلية وزائدة ،أما الياءات الإضافة فلا تكون إلا زائدة

ياى زائده كله أصلي وي اوزائده هم وي او هرچي يا دإضافت ده دابه خامخا زائده وي.

## ما أثبته وصلا وحذفه وقفاً

إمام قالون په دي كلماتو كي په حالت دوصل كي ياء ثابته لولي او په حالت دوقف كي يې حذف كوي لكه

{ومن اتبعن يْ وقل} ( وصلاً ) {ومن اتبعن.وقل} [ال عمران: 20] ( وقفاً )

{ يوم يأت يْ لاتكلم} (وصلاً ) {يوم يأت. لاتكلم} [هود: 20] ( وقفاً )

{لئن أخرتن يْ إلى} (وصلاً) {لئن أخرتن. إلى } [الإسراء: 62] ( وقفاً )

{فهو المهتد يْ ومنْ} (وصلاً) {فهوالمهتد.ومن} [الإسراء: 97] ( وقفاً )

## مــاأثبـته وصلاً ووقـفاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام قالون دا كلمه په حالت دوصل او وقف دواړو کي په اثبات دياء سره لولي **{يا عباد يْ لاخوف}** [الزخرف: 68]

## وصلاً جواز الحذف والإثبات، وقفاً الحذف فقط

إمام قالون په دی کلماتو کي إثبات او حذف دياء دواړه جائز ګڼي په حالت دوصل کي، اوهمدا وجه مقدم ده، او په حالت دوقف کي فقط حذف دياء کوي لکه **{الـداع إذا}** **{ دعان فليستجيبوا لي}** [البقره: 186]

**{لينذر يوم التلاق}** [المؤمن: 15] **{ يوم التناد }** [المؤمن: 32]

قال الله عزوجل:**{وإذا سألک عبادي عني فاني قريب أجيب دعوة الداع إذا دعان فليستجيبوا لي وليؤمنوا بي لعلهم يرشدون}** [ البقرة: 186]

| الـداع | دعـان | ميم الجمع |
|---|---|---|
| حذف | حذف | سكون |
| حذف | حذف | صله |
| اثبات الياء مع القصر. | اثبات الياء | سكون |
| اثبات الياء مع القصر. | اثبات الياء | صله |
| اثبات الياء مع التوسط. | اثبات الياء | سكون |
| اثبات الياء مع التوسط. | اثبات الياء | صله |

## ما أثبته وصلاً ، وأثبته وحذفه وقفاً بخلفٍ عنه

كما في قوله تعالى **{ فمـا آتـنِ ےَ الله}** [النمل: 36]

د إمام قالون لپاره په نوموړي کلمه کي دري وجهي جائز دي.

١/ په حالت دوصل کي په إثبات دياء دفتحي سره لولي.

٢/ په حالت دوقف کي په إثبات دياي مده ساكني سره لولي، او همدا وجه ورله مقدم ده.

٣/ په حذف دياء سره او وقف كول په نون ساكن باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الظاهر من الكلمات الفرشية

فرشي حروف داهغه أحكام خاصَّه دي چې دقرآن كريم په بعضي كلماتو پوري خاص دي او دكومي قاعدي لاندى نه دي راګير او په تواتر سره رانقل شوي دي لكه لاندي كلمات دقالون په نزد.

- ١/ مــالک * مـلک

٢/ وهُوَ، فَهُو، لَهُوَ * وَهْـوَ، فَـهْوَ، لَـهْو}

- ٣/ الأُكُل * الأكْـل}
- ٣/ خُـطُـوات * خُـطْـوات}
- ٤/ تـذكَّـرون * تـذَّكَّـرون}
- ٥/ هُزُواً ، كُفُواً * هُـزوءًا ، كُفُوءًا}
- ٦/ الـصبئِـن * الصَّـابِـين}
- ٧/ يَحسَبُ * يَـحسِبُ}
- ٨/ زكريَّا * زكرِيَّآءَ}
- ٨/ سِـيْ‍ءَ * سـيئَـتْ}

په دې دوه اخرو كلمو دسين په كسرو كي دضمي إشمام كوې.

إمام قالون دا دوه كلمات په حالت دوصل كي په تنوين سره لولي او په حالت دوقف كي تنوين په الف سره بدلوي لكه

- سلا سلاًوَّ أغلالا * قواريراً مِّنْ} (وصلاً)

سـلاسلاً..وأغلالًا * قواريرا..من} [الدهر: 4 و16] ( وقفاً )

- ❖ إمام قالون لاندي دري كلمات په إثبات دالف سره لولي په حالت دوصل او وقف دواړو كي.

الظُّنُوْنـاْ * الـرَّسُـولَاْ * السَّبِيْلَاْ

**الإ ختلاس هو إخفاء الكسرة أيْ النطق بها بسرعةٍ حتى يذهب بشيٍ منها)**

پتول دكسري دي، يعني تلفظ كول په زير باندي په جلتۍ سره تردي چي يوځه ترينه كم شي.او ددي دياداو طريقه داده چي استاذ ته مخامخ ګوري ددي كلمو دادآء په وخت كي. دإمام قالون په نزد په پنځه كلماتو كي إختلاس شوي.

دإمام قالون لپاره په كلمه د { فَنِـعِمَّـا هِيَ } [البقرة: 270 ] او په كلمه د{إن الله نِـعِمَّـا يعظكم} [النساء: 57] كي دوه وجهي دې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ١/ په سکون دعين سره.
- ٢/ په إختلاس دحرکت دعين سره.

إمام قالون کلمه د {وقلنا لهم لا تَـعْـدُوا} [النساء: 153] دعين حرف په شد سره لولي او بيا په عين کی ورله دوه وجهي جائز دي.

- ١/ په سکون دعين سره لکه { وقلنا لهم لا تـعْدوا}
- ٢/ دعين په فتحه کي إختلاس کول لکه { لاتعَدوا }

إمام قالون لپاره په کلمه د { وهم يَـخِـصِـمُـوْن } [ ياسين: 48] کي دوه وجهي دي.

- ١/ په سکون دخاء سره لکه {وهم يـخْـصِـّمون}
- ٢/ إختلاس کول په کسره د خـاء کي.
- دإمام قالون لپاره په کلمه د {أَمَّنْ لَّا يَـهِـدِّيْ} [ يونس: 45] دهـاء په کسره کي إختلاس شوي.

إمام قالون کلمه د { ثَـمُـودَا } په تنوين سره لولي لکه { ألا إن ثموداً كفروا} [هود: 68]

## دإمام قالون رحمه الله لپاره بعضي خاص حالتونه

## { هَــــأ نْـتُــــم }

نوموړي کلمه إمام قالون په إثبات دالف سره لولي روسته دهاء نه او همزه مسهله ورله منځ کي راوړي نو دقالون لپاره په دغه الف کي چی دهمزي مسهلي نه مخکي دي قصر کول او مد کول دواړه جائز دي دوجي دعمل کولو نه په دي قاعده باندي.

**(وإنْ حرف مدٍ قبل همز مغيرٍ * يجز قصره مازال أعدلا)**

کچيرته حرف مد مخکی دهغه تغير شوي همزي نه راغلي وو بيا به قصر کيږي دهاء په الف کي او مد به په خپل ځای باقي پاتي وي.

## إجتماع مد منفصل مع همزتين مفتوحتين في كلمتين (مغير بالإسقاط)

قال الله عزوجل: {وإن كنتم مرضى أول على سفرأو جآءَ أَحد منكم من الغائط} [المائدة: 6]

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ميم الجمع | المد المنفصل | الهمزتان المفتوحتان فی کلمتین |
|---|---|---|
| سكون | قصر | قصر |
| سكون | قصر | توسط |
| سكون | توسط | توسط |
| صله | قصر | قصر |
| صله | قصر | توسط |
| صله | توسط | توسط |

## إجتماع المد المنفصل مع همزتين مضمومتين

قال الله عزوجل: {ومن لايجب داعي الله فليس بمعجز في الأرض وليس له من **دونه أولياءُ أُو**لئک في ضلل مبين} [الأحقاف: 32]

| المد المنفصل | الهمزتين المضمومتين |
|---|---|
| من دونه أو | لياءُ أُولئک |
| قصر | تسهيل الأولى مع القصر |
| قصر | تسهيل الأولى مع التوسط |
| توسط | تسهيل الأولى مع التوسط |

**ملاحظه:** دإمام قالون په نزد توسط کول په مد منفصل کي سره دتسهيل دلومړۍ همزي نه اوقصر په مد منفصل کي جائز نه کني په دی سبب چي مد متصل قوي دي دمد منفصل نه.

**ملاحظه:** دإمام متولي رحمه الله په نزد تولي وجهي جائز دي دتسهيل سره، نوموړی إمام فقط منع دإسقاط دلومړۍ همزي کوي.

## اجتماع مد المنفصل مع همزتين مكسورتين كما في قوله تعالى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{ومآأُبرئُ نفسي إن النفس لأمّارة بالسوء إلا مارحم ربي إن ربي لغفورٌ رحيم} [يوسف: 53]

| المد المنفصل | الهمزتين المكسورتين |
|---|---|
| ومآ أُبرئُ | بالسوءِ إلَّا |
| قصر | إبدال الأولى مع الإدغام |
| قصر | تسهيل الأولى مع القصر |
| قصر | تسهيل الأولى مع التوسط |
| توسط | إبدال الأولى مع الإدغام |
| توسط | تسهيل الأولى مع التوسط |

**ملاحظه:** دإمام قالون په نزد داوجه جائز نده، توسط كول په منفصل كي سره دتسهيل دلومړۍ همزې نه دقصر سره، په دې سبب چي مد متصل قوي دى دمد منفصل نه.

**ملاحظه:** إمام قالون په كلمه د{بالسُّوءِ} كي همزه په واو سره بدلوي بيا دواو په لومړي واو كي إدغام كوي،او همدا وجه مقدم اوغوره ده په إعتبار د آداء سره.

## إجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل مع همزتين، الأولى مضمومة والثانية مفتوحة كما في قوله تعالى:

{وإذا قيل لهمْ أمنو كما أمن الناس قالوا أنؤمن كما أمن السفهآءُ ألا إنهم هم السفهآء ولاكن لايعلمون} [البقرة: 13]

| ميم الجمع | المد المنفصل | الهمزتين الأولى مضمومة والثانية مكسورة |
|---|---|---|
| سكون | قصر | إبدال الثانية واواً |
| سكون | توسط | إبدال الثانية واواً |
| صله | قصر | إبدال الثانية واواً |
| صله | توسط | إبدال الثانية واوً |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**إجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل مع همزتين الأولى مضمومة والثانية مكسورة** كمافي قوله تعالى:

**{والله خلق كل دآبَّة من مآء فمنهمْ من يمشي على بطنه ومنهمْ من يمشي على رجلين ومنهمْ من يمشي على أربع يخلق الله ما يشآءُ إن الله على كل شيءٍ قدير}** [النور: 45]

| ميم الجمع | المد المنفصل | الهمزتين الأولى مضمومة والثانية مكسورة |
|---|---|---|
| سكون | قصر | إبدال الثانية واواً |
| سكون | قصر | تسهيل الثانية |
| سكون | توسط | إبدال الثانية واواً |
| سكون | توسط | تسهيل الثانية |
| صله | قصر | إبدال الثانية واواً |
| صله | قصر | تسهيل الثانية |
| صله | توسط | إبدال الثانية واواً |
| صله | توسط | تسهيل الثانية |

**إجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل مع همزتين مكسورتين {هـا} مد متغير {لآءِ}** كما في قوله تعالى

**{وعلم أدم الأسماء كلها ثم عرضهم على الملئكة فقال انبؤني بأسماء هؤلآءِ إنْ كنتم صادقين}** [البقرة: 31]

| عرضهم | هـاؤ | لآءِ إنْ |
|---|---|---|
| ميم الجمع | المد المنفصل | لآءِ إنْ |
| سكون | قصر | تسهيل الأولى مع القصر |
| سكون | قصر | تسهيل الأولى مع التوسط |
| سكون | توسط | تسهيل الأولى مع التوسط |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| صله | قصر | تسهيل الأولى مع القصر |
| صله | قصر | تسهيل الأولى مع التوسط |
| صله | توسط | تسهيل الأولى مع التوسط |

**يــادونــه:** په تولو جائزو وجوهو كي اته وجهي جائز دي مګر بعضي أهل الأداء د دوو وجهو نه منع كوي.

**اوله وجه:** سكون په ميم دجمع كي سره دتوسط كولو نه په مد منفصل په **هـا** كي، سره دتسهيل دقصر نه په **لآء** كي، ځكه‌رچي مد متصل قوي دى دمد منفصل نه.

**دوهمه وجه:** صله كول په ميم دجمع كي، سره دتوسط نه په مد منفصل په **ها** كي، سره دتسهيل او قصر كولو نه په **لآء** كي. او دا عمل كول دي په هغه قاعده دأقوى المدود باندي. خو إمام متولّي عمل كړى دي په همدي قاعده باندي او منع يې ترينه نده كړي.

**أوجه إجتماع كلمة التورىة مع المد المنفصل وميم الجمع** كما فى قوله تعالى:

**{وقفينا على أثارهم بعيسى بن مريم مصدقاً لِّما بين يديه من التورىة وأتينه الإنجيل فيه هدىً وَّنورٌ وَّمصدقاً لِّما بين يديه من التورىة وهدىً وَّموعظةً لِّلمتقين}** [المائدة: 46]

| المد المنفصل | ميم الجمع | التورىة |
|---|---|---|
| قصر | صله | فتحه |
| قصر | سكون | تقليل |
| توسط | سكون | فتحه |
| توسط | سكون | تقليل |
| توسط | صله | تقليل |

**إجتماع كلمة هـا مع ميم الجمع والمد المنفصل** كما في قوله تعالى:

**{هـا أَنْتمْ هؤلآء حاججتم فيما لكم به علمٌ}** [ال عمران: 66]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هــا أنتم *          *ميم الجمع *          المد المنفصل {هؤلآء}

| | | |
|---|---|---|
| ۱/ قصــر * | * سكون * | * قصر وتوسط |
| ۲/ قصــر * | * صلــه * | * قصر وتوسط |
| ۳/ تـوســط * | * سكون * | * تــوســط |
| ۴/ تـوســط * | * صلــه * | * تـوسط |

**يمتنع توسط { هــا أنتم } مع قصر {هـؤلآء}**
دقالون رحمه الله په نزد توسط په **هـــا أنتـم** كلمه كي سره دقصر كولو نه په **هـــؤلاء** كي منع دى.

## كلمةُ { أنــــاْ } عند قالون) { د أنـــاْ } كلمه دقالون په نزد

**اولاً وقفاً:** هيڅ اختلاف نشته په مينځ دقراء كرامو كي په اثبات دالف كي په حالت دوقف كي، يعني په وقف كي به الف ثابت لوستلى كيږي لكه **(انــا)**

**ثانياً وصلاً:** هركله چي د**(انــا)** لفظ نه وروسته همزه وصلي ساكنه راشي يابل متحرک حرف ماسيوى دهمزي قطعي نه، حكم يي حذف كول د الف دي په حالت دوصل كي. مثال دهمزي وصلي ساكني لكه **{إنَّنِي انا الله لا إله}** [طه: 14] مثال دمتحرک حرف لكه **{ولا انا عابدما عبدتم}** [الكافرون: 4]

- **قــاعــدة:** هر كله چى د **{ أنـــا }** لفظ نه روسته همزه قطعي مفتوحه يا مضمومه راشي حكم يي دقالون په نزد إثبات دالف دي په حالت دوقف او وصل دواړو كي. مثال دهمزي قطعي مفتوحي لكه **{ وبـذالـک أمرت وأنـــا أول المسلمين}** [الأنعام: 163] مثال دهمزي قطعي مضمومي لكه **{قال أنــا أحي وأميت}** [البقرة: 258]
- **قــاعــدة:** هركله چى د **{أنـــا}** لفظ نه روسته همزه قطعي مكسوره راشي دقالون لپاره پكي دوه وجهي جائز دي.
- **۱/** په إثبات دالف سره. مثال دهمزي قطعي مكسوري لكه **{ إنْ أنــــآ إلَّا نذيرٌمُّبين}** [الشعراء: 115]
- **۲/** او په حذف دالف سره لكه داما‌م حفص په شان **{ إن أنَ إلا نذير مبين }**

## إجتماع كلمة { أنَــا } وميم الجمع والمد المنفصل

**اول:** هركله چي د **{ أنــا }** لفظ نه روسته همزه قطعي مفتوحه راشي اوميم دجمع دمد منفصل سره يو ځاى راشي لكه مثال:قال الله عزوجل:**{ تسرون إلـيـهم بالمودة وأنا أعلم بمآ أخفيتم ومآ أعلنتم}** [الممتحنة: 1]

**مـيـم الجمـع**          **لفظ أنـا**          **المد المنفصل(بما أخفيتم وما أعلنتم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱/ سكون ميم الجمع | قصر(أنـاْ) | قصر المنفصل |
| ۲/ سكون ميم الجمع | توسط(أنـآ) | توسط المنفصل |
| ۳/ صله ميم الجمع | قصر(أنـاْ) | قصر المنفصل |
| ۴/ صله ميم الجمع(بالقصر) | توسط(أنآ) | توسط المنفصل |

## إجتماع المد المنفصل مع ميم الجمع والمد المنفصل مع كلمة أنـا

**دوهم:** هركله چي د{ أنـاْ } لفظ نه روسته همزه قطعي مكسوره راشي او ميم دجمع دمد منفصل سره يو ځاى راشي لكه مثال:

قال الله عزوجل {وما أدري ما يُفعل بي ولا بـكـمْ إن أتبع ما يوحى إلى وما أنا إلا نذير مبين} [الأحقاف: 9]

| المد المنفصل{ومآ أدرى} | ميم الجمع{بـكـمْ إن} | المد المنفصل{يوحى إلىَّ وما أنا} | |
|---|---|---|---|
| ۱/ قصر المنفصل | سكون ميم الجمع* | قصر المنفصل* | حذف الألف |
| ۲/ قصر المنفصل | سكون ميم الجمع* | قصر المنفصل* | قصر(أنـا) |
| ۳/ قصر المنفصل | صله ميم الجمع* | قصر المنفصل* | حذف الألف |
| ۴/ قصر المنفصل | صله ميم الجمع بالقصر* | قصر المنفصل* | قصر(أنـآ) |
| ۵/ توسط المنفصل | سكون ميم الجمع* | توسط المنفصل* | حذف الألف |
| ۶/ توسط المنفصل | سكون ميم الجمع* | توسط المنفصل* | توسط(أنـآ) |
| ۷/ توسط المنفصل | صلة الميم بالتوسط* | توسط المنفصل* | حذف الألف |
| ۸/ توسط المنفصل | صلة الميم بالتوسط* | توسط المنفصل* | توسط(أنـآ) |

**[تَـمَّـتْ بـالْـخَـيْـر]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يـــادونـــه:** إمام شاطبي رحمه الله فرمايي **(وإن كان خرقٌ فادَّركهُ بفضلةٍ * منَ الحلمِ وليصلحه من جاد مِقْولا وقل صادقاً لولا الْوِئام وروحهُ * لطاح الأنام الكل فى الخلفِ والقلا)**
كچيرته زما په كتاب كی نيمګړتيا وې نو دهغي اصلاح دي په صبر او حوصلي سره وکړي شي او هغه څوک دي اصلاح وکړی چي په دی فن کي ماهر وي او په مثل کي ويل شوي که چيرته روغه جوړه نه وي داختلافاتو دختميدلو لپاره نو ټول انسانان به هلاک شوي وای.
نو زما مطالبه دهغه ورونو نه داده چي داكتاب مطالعه كړی اوكومه املائي غلطي او نيمګړتيا پکي ووينی دهغی اصلاح دي دامام شاطبی رحمه الله دزرينو وېناګانو په رڼا کي وکړي او مونږ دي وربااندی خبر کړي چي مونږ دغلطی اصلاح وکړو اوله دوی څخه مننه اوشکريه وکړو.
**اللهم اجعلنا من الذين يتلون كتابک حق تلاوته.**
دالله عزوجل نه سوال کوم چي داليکنه زما اوزما دوالدينو،بچو،اوأستاذانو،اودلوستونکو لپاره ذريعه دنجات او ددنيا او أخرت دكاميابی او خالص دالله جل جلاله درضا سبب وګرځوي.

**آمـين يــارب الـعـالـمـين**

تـم الـفـراغ بحمدالله من إملائي الكتاب **( كَيْفَ نُرَتِّلُ الْقُرْآنَ بِرِوَايَةِ قَالُوْنَ عَنْ نَّافِعِ الْمَدَنِيْ )**عام: ١۴۴٣/۴/٧هـ ق لهجرة سيدنا رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً الى يوم الدين.
وبالله التوفيق والسداد وهو الهادي إلي طريق الرشاد ولاحول ولاقوة إلا بالله العلي العظيم.
وكتبه العبد الضعيف راجي عفو ربه / **أبو ذكوان قاري شاه ولي الله بن سيد محمد آخندزاده،**
**معلم القرآن الكريم والتجويد، بمركز العلوم الإسلامية أسعدآباد ـ كونر ـ أفغانستان**

**[دكـتــاب ټـول حـقـوق مـحـفـوظ دي دمـؤلـف سـره]**

## { ډالـــــــی }

**خپلو والدينو، او خپلي درني كورنۍ ته.**
**خپلو مشائخو،او طالب العلمانو ته.**
**خپلو حافظانو ورونو او بچو ته.**
**دمصعب بن عمير رضي الله عنه دحلقي**
**موجوده او فارغ شوو شاګردانو ته.**
**او هر هغه چاته ډالی چي ماترينه**
**دقرآن مجيد يو حرف ياد كړی.**

**دوټسـاپ شميره: 0093778833435**
**دفيسبوک اكاونټ: قاري شاه ولي الله آخندزاده**
**إيميل آدرس: Qarishahwaliullah100@gmail.com**
**Qarishahwaliullah100@yahoo.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**المصادر والمراجع** — **إسم المؤلف**

**١/ الثمر اليانع في رواية الإمام قالون عن نافع** ........................ محمد نبهان بن حسين مصري

**٢/ الثمر الجني في بيان أصول رواية قالون** ............................ عبد الحكيم أحمد أبو زيان

**٣/ المختصر الجامع لأصول رواية قالون عن نافع** .................. عبدالحليم بن محمد الهادي قابه

**٤/ الجامع في رواية قالون عن نافع** .................................. خالد بن محمد علي بن محمد البياتي

**٥/ التمهيد في أحكام علم التجويد** .................................... عبدالسلام بن الشيخ عبدالرزاق

**٦/ النجم اللامع في رواية قالون عن نافع** ............................ الشيخ محمد بن عبدالرشيد العبيدي

**٧/ النهج المأمون إلى رواية قالون** .................................... ابراهيم طـه سليم دابه

**٨/ تنشيط الطبع** ....................................................... مولانا أشرف علي تهانوي رحمه الله

**٩/ منارة الإتقان في تلاوة القرآن** ...................................... الشيخ أشرف فوزي العشي

**١٠/ الدرر الحسَّان في القراءات العشر للقرآن رواية قالون** ....... أحمد ضيف الله أبوسمهدانه

**١١/ الإتقان في أصول رواية الامام قالون بن وردان** ............... أبو اسماعيل ابراهيم بن محمد شيدان

**١٢/ مذكِّرة في أحكام الترتيل برواية قالون عن نافع** ............... الأستاذ عبدالكريم مقيدش

**١٣/ الإكليل في رواية قالون عن نافع بالدليل** ......................... أبو عبدالله عبد المالک بن عبد القيوم

**١٤/ غاية المريد في علم التجويد** ....................................... خادم القرآن الكريم عطيه قابل نصر

**١٥/ أصول قـالـون** ........................................................ خادمة القرآن الكريم وفـاء شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الفـهـرس

| المـوضـوع | رقم الصـفـحـة |
| --- | --- |
| تقريظ ومراجعة | 2 |
| المقدمـة | 3 |
| دقرآن كريم فضيلت | 4 |
| آداب تلاوة القرآن الـكريم | 5 |
| دقرآن كريم دلوستونـكو فضيلت | 6 |
| محاسن التلاوة | 7 |
| الإسنادالذي أدَّى إلى رواية قالون | 8 |
| القرآء العشرة ورواتهم | 10 |
| ترجمة الإمام نافع المدني | 11 |
| دامام نافع دلومړي راوي قالون شهرت | 12 |
| دأُمت دعلماؤ په ژبه دامام قالون ستاينه | 13 |
| دامام نافع ددوهم راوي ورش شهرت | 13 |
| بعضي ضوابط او اصطلاحات | 14 |
| الإدخال، الإبدال، الإسقاط، الصلة، الإمالة | 15 |
| تثليث، الإختلاس، الروم، حالات الروم، الإشمام | 16 |
| الإبتداء، الوقف، السكت، القطع | 17 |
| الفرق بين القراءة، والرواية، والطريق، والوجه | 18 |
| الفرق بين الأداء، والتلاوة، والقراءة | 19 |
| مراتب التلاوة | 19 |
| الفرق بين القارئْ والمقرئ | 20 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




تعريف علم القراءت، موضوع، غرض، ثمرة ............................................ 20
سلسنة السند برواية قالون عن نافع المدني ............................................ 21
دقراءاتو اختلاف په دوه قسمه دی .................................................. 23
أحكام الإستعاذة والبسملة ........................................................ 24
أُوجه الإستعاذة مع سورة التوبة ..................................................... 25
أحكام البسملة ................................................................... 25
أُصول قالون ميم الجمع ............................................................ 26
باب المد والقصر ................................................................. 27
طُرُق قالون ...................................................................... 27
إجتماع المد المنفصل مع ميم الجمع ................................................. 28
باب هاءالكناية .................................................................. 29
أحوال هاءالكناية عند قالون ........................................................ 30
باب همزالمفرد .................................................................. 31
الهمزتان من كلمة ................................................................ 32
إجتماع الهمزتين في كلمتين ........................................................ 33
الهمزتان المتفقتان في الحركة ...................................................... 34
الهمزتان المختلفتان في الحركة ..................................................... 35
الإستفهام المكرر ................................................................. 36
باب النقل ....................................................................... 37
حكم إلتقاءالساكنين ............................................................... 38
باب الفتح والإمالة ومابين اللفظين .................................................. 39
باب الإظهار والإدغام ............................................................. 40
ياءات الإضافة ................................................................... 41

(c) ketabton.com: The Digital Library



إستثناءات ياءات الإضافة اللتي قرأها بالإسكان ........................................... 42
قبل همزالقطع مكسورة ................................................................. 42
الفرق بين الياءات الزوائد وياءات الإضافة .................................................. 44
الياءات الزوائد تكون أصلية وزائدة ........................................................ 45
الظاهر من الكلمات الفرشية ............................................................ 46
امام قالون په پنځه کلماتو کي اختلاس کوي ............................................ 47
بعضي خاص حالتونه د إمام قالون لپاره ................................................. 48
إجتماع المد المنفصل مع همزتين مضمومتين ............................................ 49
إجتماع المد المنفصل مع همزتين مكسورتين ............................................. 50
إجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل مع همزتين ........................................... 50
اجتماع ميم الجمع مع المد المنفصل مع همزتين مكسورتين .............................. 51
أوجه إجتماع كلمة التوربة مع المد المنفصل وميم الجمع .............................. 52
إجتماع كلمة ها مع ميم الجمع والمد المنفصل ........................................ 52
كلمة انا عند قالون ...................................................................... 53
إجتماع المد المنفصل مع ميم الجمع والمد المنفصل مع كلمة انا ................... 53
يادونه .................................................................................... 55
دالى ..................................................................................... 55
المصادر والمراجع ........................................................................ 56

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**